بسم الله الرحمن الرحیم

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تجارتی محاکمو د اصولو قانون

رسمي جريده ګڼه (۱-۴)
نېټه ۱۳۴۳/۱۲/۱۷ هـ. ش

(c) ketabton.com: The Digital Library

**خواننده گرامی!**

افتخار داریم که بعد از نشر"مجموعه قوانین افغانستان" با شیوۀ تنظیم موضوعی، اکنون به‌خاطر سهولت بیشتر در دسترسی شما به قوانین مورد نیاز، سلسلۀ دیگری از قوانین نافذۀ کشور را با قطع کوچک جیبی در اختیار شما قرار می دهیم.

**څارنپوه حبیب الله "غالب"**

**وزیر عدلیه**


**نام:** قانون اصول محاکمات تجارتی

**ناشر:** وزارت عدلیه جمهوری اسلامی افغانستان

**تهیه و ترتیب:** ریاست نشرات

**مدیر پروژه:** قانونمل محمد رحیم "دقیق" سرپرست ریاست نشرات

**تدارکات و اداری:** سید محمد هاشمی رئیس امور مالی و اداری و احمد خالد عزیزی معاون واحد پروژه بانک جهانی در وزارت عدلیه

**طراح جلدو صفحه‌آرا:** امان الله صداقت(غیبی)، عباس رسولی و حسین امینی

**مصححین:** نورعلم خان، حلیم سروش، محمد رفیع عمری، احسان الله نیکزاد

**مشاورین:** اسماعیل حکیمی و محمد یما قاسمیار

**تاریخ نشر:** ۱۳۹۰

**تیراژ:** ۵۰۰۰

**چاپ:** اول (قطع جیبی)

**قیمت:** ۶۰ افغانی

**مطبعه:** مطبعه طباعتی وصنعتی احمد

**تلفن ریاست نشرات:** ۰۷۰۰۰۵۸۷۴۵۷

**ویب سایت:** www.moj.gov.af


**کلیه حقوق چاپ برای وزارت عدلیه محفوظ است.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پښتو فهرست

## قانون اصول محاکمات تجارتی


**لومړی باب: عمومی احکام** ........................................ ۹
لومړی فصل: مقدمه........................................ ۹
دوهم فصل: صلاحیت ........................................ ۱۰
دریم فصل: د تجارتی محکمو د غړو د رد اسباب ......... ۱۳
څلورم فصل: د داوړو خواوو اهلیت ........................ ۱۵
پنځم فصل: د دواړو خواؤ وکیلان............................ ۱۵
شپږم فصل: د محکمی صلاحیت او د دواړو خواوو موقعیت ۱۸
اووم فصل: اصلاح ........................................ ۱۹
اتم فصل: احتیاطی تدبیرونه او تأمینات........................ ۲۰
نهم فصل: خبرول او راوستل........................................ ۲۸
لسم فصل: د غونډو سمون........................................ ۳۲
**دوه یم باب: لومړنۍ مرحله** ........................................ ۳٤
لومړی فصل: په ابتدائی محکمه کی ددعوو وړاندی کول... ۳٤
دوه یم فصل: لومړنی اعتراضونه ........................ ۳٦
دریم فصل: د اصل موضوع په باب اعتراضونه ............. ۳۸
څلورم فصل: جوابی دعوی........................................ ۳۹
پنځم فصل: په دعوی باندی غور........................................ ٤۰
شپږم فصل: شاهدی ........................................ ٤۱
اووم فصل: اهل خبره........................................ ٤٤
اتم فصل: سندونه ........................................ ٤۷
نهم فصل: اقرار ........................................ ۵٦
لسم فصل: قضائی نیابت ........................................ ۵۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوولسم فصل: حکميت........................................ ۵۸
دولسم فصل: په دليلونو غور او د تحقيقاتو ختم............. ٦٤
**درېيم باب: دمرافعي غوښتنې مرحله** ............................ ٦٧
لومړی فصل: هغه حکمونه او فيصلې چه مرافعه پری غوښتل کيدی شي .......................................................... ٦٧
دو هم فصل: د مرافعې غوښتلو موده........................ ٦٨
درېيم فصل: مرافعوی غور ........................................ ٦٩
**څلورم باب: تميز غوښتنه** ........................................ ٧٣
لومړی فصل: هغه حکمونه او قرارونه چه تميز پری غوښتل کيدی شي .......................................................... ٧٣
دوهم فصل: د تميز غوښتنې موده ............................. ٧٥
درېيم فصل: په تميز کښې غور ................................ ٧٥
**پنځم باب: د فيصله ليکونو محصول، د وثيقو بيه او د تجارتي محکمو لګښت** .......................................................... ٧٨
لومړی فصل: د فيصله ليکونو محصول.......................... ٧٨
دوه يم فصل: د تجارتي محاکمو د وثيقو بيه ................. ٨٠
درېيم فصل: حق التصديق او د محکمولګښتونه.............. ٨١
**شپږم باب: د تجارتي محکمو تشکيلات**......................... ٨٣
لومړی فصل: ابتدائيه تجارتي محکمې........................ ٨٣
دوه يم فصل: مرافعه محکمه ..................................... ٨٥
درېيم فصل: د تميز تجارتي محکمه.......................... ٨٦
څلورم فصل: متفرقه مواد......................................... ٨٦

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست(دری)

**باب اول: احکام عمومی** ........................ ۹۶
فصل اول: مقدمه ........................ ۹۶
فصل دوم: صلاحیت ........................ ۹۷
فصل سوم: اسباب رد اعضای محاکم تجارتی ........................ ۹۹
فصل چهارم: اهلیت طرفین ........................ ۱۰۱
فصل پنجم: وکلای طرفین ........................ ۱۰۲
فصل ششم: صلاحیت محکمه و موقعیت طرفین ........................ ۱۰۴
فصل هفتم: اصلاح ........................ ۱۰۵
فصل هشتم: تدابیر احتیاطی و تأمینات ........................ ۱۰۶
فصل نهم: ابلاغ و احضار ........................ ۱۱۵
فصل دهم: تنظیم جلسات ........................ ۱۱۸
**باب دوم: مرحله ابتدائیه** ........................ ۱۲۱
فصل اول: اقامه دعوی در محاکم ابتدائیه ........................ ۱۲۱
فصل دوم: اعتراضات ابتدائی ........................ ۱۲۳
فصل سوم: اعتراضات مربوط باصل موضوع ........................ ۱۲۵
فصل چهارم: دعوی متقابل ........................ ۱۲۵
فصل پنجم: رسیدگی بدعوی ........................ ۱۲۶
فصل ششم: شهادت ........................ ۱۲۷
فصل هفتم: اهل خبره ........................ ۱۳۰
فصل هشتم: اسناد ........................ ۱۳۳
فصل نهم: اقرار ........................ ۱۴۳
فصل دهم: نیابت قضائی ........................ ۱۴۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

فصل یازدهم: حکمیت ........................................ ۱٤٥
فصل دوازدهم: رسیدگی بدلایل و ختم تحقیقات.......... ۱٥۱
**باب سوم: مرحله مرافعه طلبی**................................ ۱٥٤
فصل اول: احکام و قرارهای قابل مرافعه طلبی.......... ۱٥٤
فصل دوم: مدت مرافعه طلبی.................................. ۱٥٥
فصل سوم: رسیدگی مرافعه وی ................................ ۱٥٦
باب چهارم: تمیز طلبی......................................... ۱٦۰
فصل اول: احکام و قرارهای قابل تمیز ....................... ۱٦۰
فصل دوم: مدت تمیز طلبی..................................... ۱٦۲
فصل سوم: رسیدگی در تمیز .................................... ۱٦۳
**باب پنجم:محصول فیصله خط ها ، قیمت وثایق و مصارف محاکم تجارتی**.................................... ۱٦٥
فصل اول: محصول فیصله خط ها ............................ ۱٦٥
فصل دوم: قیمت وثایق محاکم تجارتی ...................... ۱٦۷
فصل سوم: حق التصدیق ومصارف محکمه ................ ۱٦۹
**باب ششم: تشکیلات محاکم تجارتی** ....................... ۱۷۱
فصل اول: محاکم ابتدائیه تجارتی ............................ ۱۷۱
فصل دوم: محکمه مرافعه ...................................... ۱۷۲
فصل سوم: محکمهٔ تمیز تجارتی................................ ۱۷۳
فصل چهارم: مواد متفرقه ...................................... ۱۷٤

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د تجارتی محاکمو د اصولو قانون

## لومړی باب
## عمومی احکام

## لومړی فصل
## مقدمه

**لومړۍ ماده:**
په ټولو هغو اختلافونو غور چه له تجارتی معاملاتونه راپورته کیږي د دری واړو تجـارتی محکمـو وظیفـه ده او ددی قـانون د احکـامو تـابع دی.

**دوهمه ماده:**
هیڅ یو له تجارتی محکمو څخه راساً په یوه دعوی باندی غور نه شی کولای، مګر هله چه یوله دواړو خواؤنه ددی قانون د احکامو سره سم پر دعوی باندی د غور کولو غوښته کړی وی.

**دریمه ماده:**
تجارتی محکمی مکلفی دی چه د تجارت لـه اصولنامې د مـوادو او ددی قانون له موادو سره سم په تجارتی دعوو غور وکړی.

**څلورمه ماده:**
هـیڅ یـو لـه رسمی مقامـاتو او دولتـی ادارو څخـه نـشی کـولای چـه د تجارتی محکمو احکام او فیصلو ته تغییر ورکړی او یا د هغه د اجراء مخه و نیسی مګر تر هغه پورتـه محکمـه هغـه هـم پـه هغـو ځـایو کـښی چه پدغه قانون کښې ټاکل شوی وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پنځمه ماده:**
که چېرې یوې تجارتي محکمې ته داسې دعوی و سپارل شي او یا پکښې اقامه شي چه ددې قانون داحکامو مطابق په هغې باندې غور کول دیوې بلې محکمې یا کوم اداري مقام پورې اړه و لري نو محکمه بایدداسې فیصله وکړي چه (په دې دعوی غور کول ددې محکمې وظیفه نه ده).

## دوهم فصل
## صلاحیت

**شپږمه ماده:**
ددې فصل د نور و داحکامو په نظر کښې نیو لو سره تجارتي دعوی په داسې محکمه کښې دائرېږي چه د مدعی علیه قانوني هستوګنځې ددغې محکمې په قضائي ونډ کښې دننه وي چه کله مدعی علیه ډیر او مدعی یو وي یا موضوعات ګڼ خو یوه په بلې پورې مربوط وي نو دعوی په داسې یوه محکمه کښې دائرېږي چه د یو مدعی علیه هستوګنځې د هغې په قضائي ونډ کښې دننه وي.

**اوومه ماده:**
قانوني هستوګنځې هغه ځای ته وائي چه یو سړی پخپله اراده تل ترتله د خپلې هستو ګنې له پاره غو ره کړې وي.

**اتمه ماده:**
په هغه محکمه کې چه د قرار داد د عقد یا داجراکیدو ځای د هغې په قضائي ونډکښې دننه وي دعوی اقامه کیدی شي خو په دې شرط چه مدعی علیه یا د هغه قانوني وکیل د دعوی د اقامې په وخت کښې په دغه ونډ کښې هستوګنځې نه ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نهمه ماده:**
هغـه محکمـه چه پـه اصـل دعـوی بانـدی غـور کـول ورتـه مجاز وی دا صلاحیت لری چه د متقابله دعوی په باب هم حکم صادر کاندی.

**لسمه ماده:**
په هغـو کسـانو بانـدی چه پـه افغانسـتان کښـی قـانونی هسـتوږ نځی نلری په هغه محکمه کښې دعوی اقامه کیږی چه دغسی خلک ئی په قـضائی ونـډ کـښې هـستوږ نـه کـوی او کـه پـه افغانـستان کـښې هـډو دهغوی هستوږ نځی معلوم نه کړی شی نو دعوی په هغه محکمه کښی دائریږی چه دمدعی علیه مـالونه، یائی د مـالونو تضمینات، یا هغـه شـی چـه پـرې منازعـه وی ددغـی محکمـی پـه قـضائی ونـډ کـښی دننـه موجـود وی او کـه دا یـوهـم نـه ؤ نـود کابـل پـه تجارتی ابتدائیـه محـکمه کښی د هغوی په مقابل کښې دعوی دائریدای شی.

**یوولسمه ماده:**
که چېرې یو حقیقی یا حقوقی شخص په بیلو ځایونو کښی نمایندګی و لری نو هغه دعوی چه د نمایندګیو لـه جملې څخه دیـوی د معـاملو نه راپورته شوی وی پخپله ددغه حقیقی یـا حقـوقی شـخص د هـستوږ نځی په محکمه او یا په هغه محکمه کښی چه د غـه نماینـدګی ئـې پـه قضائی ونډ کښی دننه وی دائریدای شـی. د افـلاس دعـوې لـه دې نـه مستثنی دی.

**دوولسمه ماده:**
هغـه دعـوی چـه شـرکتونه او تجـارتی مؤسـسی ئـې د خپلـو معاملولـه مخه په غړ و یا ئې غړی د شرکت د معاملاتو له مخه یـو پـه بـل بانـدی کـوی پـه هغـه محکمـه کـښې دائـر یـږی چـه د شـرکتو نـو او مؤسـسو قانونی هستوږ نځی د هغی په قضائی ونډ کښې د ننه وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دیارلسمه ماده:**

د تاوان اخستلو دعوې چه دبیمې له مقاولاتو څخه را پیدا کیږی په هغه صورت کښې چه بیمه شوی مالونه منقول نه وی په هغه محکمه کښی دائریږې چه د غه مالونه د هغی په قضائې ونډ کښی پراته وی. او که چېرې بیمه شوی مالونه منقول وی نو دبیمې له مقاولې نه راولاړه شوې دعوی په هغه محکمه کښی چه د تاوان پېښېدو ځای دهغی په قضائې ونډ کښی وی او یا په هغه محکمه کښی چه د بیمی مقاوله د هغی په قضائې ونډ کښی یو ځای واقع شوی وی ختمېږی، دائریدای شی.

**څوارلسمه ماده:**

که چېرې یو ددعوی له دواړو خواو څخه د هغی محکمی په صلاحیت باندی چه په دغه دعوی غور کوی اعتراض لری نو باید چه خپل اعتراض همدغی محکمی ته په دعوی باندی دغور شروع کولو نه مخکښی وړاندی کړی، که دانه وی نو بیا داسی ګڼل کیږی چه ده د محکمی صلاحیت ته غاړه ایښی ده.

**پنځلسمه ماده:**

که چېرې په یوه دعوی باندی دغور کولو او پخپل صلاحیت کښی د هغی د ګڼلو په باب د تجارتی محکمو ترمنځ د نظر اختلاف پېښ شی نو دابه د تجارت د تمیز محکمه سپینوی چه صلاحیت د کومی محکمی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دریم فصل
## د تجارتی محکمو د غړو د رد اسباب

**شپاړسمه ماده:**
د تجارتی محکمو هر غړی په لاندې حالاتو کښې په دعوو باندی له غور کولو څخه رد کېدی شی:
۱- چه دعوی په داسی چاوی چه د یو غړی ښځه، یا لومړی درجه یا دو همه درجه خپلوان وی.
۲- که چیری دعوی له مور، زوی لور یا لمسی څخه د یوه دوصی او یا وکیل په حیث وی.
دوهمه درجه خپلوان نیکو نو تره، ورور، خور، د ورور اولاد، د خور اولاد، خوسر، خواښی، او ښینی ته وائی.
۳- که دعوی دیوه خواد وصی یا وکیل په حیث وی.
۴- که د دعوی په موضوع کښې ئې دمحکمې د غړی، حکم، اهل خبره یا شاهد په حیث عقیده څرګنده کړی وی.
۵- چه د محکمی د غړی او یو صاحب الدعوی ترمنځ په کومه بله محکمه کښې حقوقی یا جزائې دعوی دائره وی او یاد دوی دواړو ترمنځ د خصومت څرګندی نښی نښانې یا مثبت دلایل وجود ولری.

**اووه لسمه ماده:**
د رد غو ښتنه باید په یوه داسی پاڼه کښی چه د رد اسباب پکښی واضح او صریح لیکل شوی وی د مدعی یا مدعی علیه له خوا چه وغواړی د لاژمو سندونو سره په دعوی باندی دغور د پاره د لومړی غونډی نه کم نه کم اته څلویښت ساعته مخکښی محکمی ته وړاندی کړی شی.
په کار دی چه په دغه پاڼه تاریخ لیکلی وی او درد غوښتونکی امضاء یا مهر یا ګوته یا د دوو تنو تصدیق موجود وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اتلسمه ماده:**

د رد غوښتنه چه څنګه محکمی ته ورسیږی د محکمی په دفتر کښی ثبتیږی او سمدستی ئی سواد هغه غړی ته ورکول کیږی چه د هغه رد غوښتل شوی وی که چیرې نو موړی غړی د، رد اسباب ددی قانون په احکامو برابر وګومی نو مکلف دی چه په دعوی باندی د غور کولو نه ډډه وکړی او محکمی ته له خپل استنکاف څخه لیکلی خبرور کړی. که چیرې پخپله غړی د رد غوښتنه چه په قانون برابره ونه ګڼی نو د محکمی هیئت بی له هغه غړی چه رد ئی غوښتل شوی وی په خپله نږدی غونډه کښې د رد په غوښتنه غور کوی او د هغی د منلو یا نه منلو په باب خپله فیصله صادر وی.

**نولسمه ماده:**

که چیرې داسی و چه بې له دغه غړی چه رد ئی غوښتل شوی دی د محکمی د هیأت نصاب نه پوره کیده نو بیا پورتنۍ محکمه د رد په غوښتنه غور کوی او فیصله صادر وی.

**شلمه ماده:**

که چیرې دمحکمی هیأت د رد غوښتنه ومنله نو رد شوی غړی ددغی دعوی په غور کښې ګډون نه شی کولای.

**یو ویشتمه ماده:**

که چیرې د محکمی هیئت د رد غوښتنه ونه منله نو رد غوښتونکی باندی د یوزر نه تر دوو زرو افغانیو پورې د نقدی جرم ور کولو حکم کوی.

**دوه ویشتمه ماده:**

د رد په باب چه د محکمی له خوا هر څومره فیصلی صادریږی مرافعه اوتمیز پری نه شی غوښتل کیدلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## څلورم فصل
## د داوړو خواوو اهلیت

**در ویشتمه ماده:**
عاقل، بالغ او غیر محجور کسان ددعوی اقامه کولو اهلیت لري، او مدعی علیه واقع کیدی شي.

**څلیر ویشتمه ماده:**
د دواړو خواوو نه هره یوه چه د بلې خوا د عدم اهلیت دعوی لري مکلفه ده چه د خپلې دعوی ثابتولو دپاره لازم قانوني سندونه او دلیلونه محکمې ته وړاندې کړي. د تجارتي افلاس د حالت نه پرته باید چه قانوني اسنادو خپل مراحل په مربوطو عدلي محاکمو کښې طی کړي وي.

**پنځه ویشتمه ماده:**
هغه حقیقي اشخاص چه پخپله ددرویشتمې مادې اهلیت نه لري او حقوقي اشخاص چه د دولت رسمي اوتر تصدی لاندې دوائر اوښاروالۍ پکښې شامل دي د خپلو قانوني ممثلینو په واسطه د مدعی او مدعی علیه صفت مومي.

## پنځم فصل
## د دواړو خواؤ وکیلان

**شپږ ویشتمه ماده:**
هرڅوک چه ددعوی اقامه کولو اهلیت لري، کولی شي چه خپله دعوی پخپله یا دهغه وکیل په لاس چه دی ئې په آزادۍ سره غوره کوي په تجارتي محکمو کښې اقامه او تعقیب کاندي.
قانوني ممثلین هم دغه حق لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اووه ویشتمه ماده:**

په محکمې، د وکیل د صلاحیت تعمیم یا د هغه تخصیص محکمې زمانی، شخص، موضوع او نورو پوری باید چه په وکالت خط کښی ښکاره ذکروی.

هغه صلاحیت چه په یوه موضوع کښی وکیل ته ورکول کیږی عموماً د هغی په ټولو محاکموی مرحلو کښی نافذ دی پر ته له هغه چه پخپله مؤکل دغه صلاحیت په وکالت خط کښی په کومه ځرګنده مرحله یا مرحلو پورې محدود کړی وی.

**اته ویشتمه ماده:**

وکیل مکلف دی چه د خپل وکالت خط اصل یا مثنی چه د اصولو مطابق په شرعی یا تجارتی محکمو کښی جوړ شوی وی د دعوی په دوسیه کښی د ساتلو دپاره مربوطی تجارتی محکمی ته وسپاری. د رسمی وکیلانو و کالت خط هماغه رسمی مکتوب دی چه د هغو د صلاحیت دارو آمرانو له پلوه امضا شوی او محکمی ته لیږل کیږی.

**نهه ویشتمه ماده:**

که مؤکل غواړی چه وکیل د خپل وکالت نه بیځی یا کله کله عزل کاندی او یا وکیل وغواړی چه له وکالته استعفا وکړی، دوی مکلف دی چه د محکمی د ټاکلی غونډی د کیدونه دری ورځې مخکښې هم خپل مقابل طرف او هم محکمی ته خبر ور کړی چه د استعفا او عزل مسئله په دواړو صورتونو کښی د محکمی د دعوی دضبطولو په کتاب کښی ولیکل شی.

ددغه پورتنی حالت نه پرته عزل او استعفا یواځې هغه وخت نافذ ګڼل کیږی چه د محکمی رئیس د عزل او استعفا دلایل معقول وګڼی او د دعووپه کتاب کښی د استعفا یا د عزل د موضوع د لیکلو امر وکړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د ېرشمه ماده:**

د وکیل د عزل یا استعفا په صورت کښې مربوطه محکمه مؤکل ته خبر ورکوی چه په هغه موده کښې دننه دننه چه محکمه ئی تعینوی پخپله او یا د نوی وکیل په واسطه د دعوی د جریان تعقیب ته تیارشی. که داسی و نه شی نو د هغه په غیاب کښې فیصله صادریدی شی.

**یو د ېرشمه ماده:**

که وکیل مړشي یا له وکالته منع کړی شی، موکل مکلف دی چه په هغه موده کښې دننه چه د محکمی له خوا ټاکله کیږی نوی وکیل و نیسی یا پخپله د اقامه شوی دعوی تعقیب ته ودریږی.

**دوه د ېرشمه ماده:**

هغه وکالت خطونه چه له افغانستان نه بهر جوړیږی په هغه صورت کښې اعتبار لری چه د افغانستان په یوه سیاسی نمایندگی یا قونسلگری کښې ترتیب شوی وی یا د هغوی له خوا له اصول سره سم تصدیق شوی وی، په دواړو صورتونو کښې دافغانستان د خارجه چارو د وزارت د مربوطه څانگی تصدیق لاژم دی.

**دری د ېرشمه ماده:**

د خپلو مؤکلانو سره د حق الزحمی په باب د دواړو خواوو د وکیلانو دعوی د مدعی علیه دهستوګنځی په محکمه کښې او بل په هغه محکمه کښې چه اصلی دعوی پکښې دائره شوی وی فیصله کیدی شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شپږم فصل
## د محکمی صلاحیت او د دواړو خواوو موقعیت

**څلور دیرشمه ماده:**

محکمه د دواړو خواوو په دعوی او دفاع پوری پابنده ده او دانشی کولی چه د (مدعا به) له تعداده زیات یا دهغه مطلب په باب حکم صادر کړی چه هڅو ظاهر شوی نه وی.

د موضوع د تحقیق له مخی د وړاندی شویو دلیلونو په اساس د (مدعا به) په کمه اندازه حکم صادرول جواز لری.

**پنځه دیرشمه ماده:**

محکمه دانشی کولی چه دواړه خواوی د خپلو ویناؤ یا دلیلونو او سندونو ښکاره کولو خطرته متوجه کړی، خودا کولی شی چه که دهغوی دعوی یا دلایل ورته مبهم ښکاره شی چه توضیحات تری وغواړی.

**شپږدیرشمه ماده:**

د هغو حالاتو نه پرته چه د هغو په باب د محکمی له خوا د فوری غور فیصله صادریږی په ټولو قضایاؤ باندی غور کیدل په وار دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اووم فصل
## اصلاح

**اووه دیرشمه ماده:**
د دعوی دواړه خواوی کولی شی چه په کومو معاملو د دوی نزاع وی او هغه په هره مرحله کښی چه وی د حکم له صادریدو نه مخکښی تولې یا ځینی د مصالحت له لاری فیصله کاندی.

**اته دیرشمه ماده:**
دواړه خواوی کولی شی چه د اصلاح راتللو په نیت پخپلو کښی مخامخ په خبرو اترو لاس پورې کړی او یا ددی مقصد د پاره اصلاحی و کیلان وټاکی او محکمی ته یی معرفی کاندی، خو داده چه باید د اصلاح درخواست د دواړو خواؤ له پلوه لیکلی و شی.

**نهه دیرشمه ماده:**
په پورتنۍ مادۀ کښی د ذکر شویو اصلاحی وکیلانو له پلوه چه کومه فیصله کیږی دهغی قبول د دواړو خواؤ په هغه موافقه پورې چه د محکمی په وړاندی ئی اظهارکړی مربوط دی مگر هله نه چه د وکیلانو صلاحیت د توکیل له شروع کیدو راهیسی عام او کامل وی.

**څلویښتمه ماده:**
مربوطه محکمه تش یوځل د دعوې خاوندانو ته د اصلاح سپارښتنه کوی که چېرې دواړه خواوی د اصلاح په لاری د خپل اختلاف اوارولو توفیق ومومی نو باید چه په هغه موده کښی دننه چه محکمی ښودلې ده د اصلاح صورت محکمې ته وړاندی کړی، مربوطه محکمه مکلفه ده چه بې له کوم تصرفه ددغه اصلاح خط په استناد د مورد اختلاف موضوع په باب خپله رسمی فیصله صادره کاندی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که چېرې اصلاح په (۳۸) ماده کښې دذکر شویو اصلاحی و کیلانو په لاس شوی وی نو په هغه اصلاح خط کښې به چه محکمی ته سپارل کیږی د اصلاحی و کیلانو امضاء مهر یا د ګوتی نښه حتمی ده.

**یوڅلوېښتمه ماده:**

که چېرې دواړه خواوی د اصلاح په لاره روغی جوړې کولو ته غاړه کښېنږ دی محکمه باید چه هغوی هسی بی فایدی ونه ځنډوی، چه څنګه ولیدله شی چه دواړه خواوی اصلاح ته تیاری ندی نو باید چه محکمه د عدم موافقت ددعوو د ثبت په کتاب کښې و خیږوی او رسماً موضوع ترغور لاندی ونیسی او خپله اصولی فیصله صادره کاندی.

## اتم فصل
## احتیاطی تدبیرونه او تأمینات

**الف: احتیاطی تدبیرونه**

**دوه څلوېښتمه ماده:**

محکمی ته اجازه ده چه د یوی خوا په غوښتنه د دعوې د سوریدلونه لومړی یا وروستی د متنازع فیه شی د ساتنی دپاره د هر قسم تدبیر کولو د پاره چه لازم وی فیصله صادره کړی.

**دری څلوېښتمه ماده:**

که محکمه دا ووینی چه د احتیاطی تدبیر کول په یوبل ځای کښې ډیر آسان، یا په ډیر لږ تاوان یا ډیر زرکیږی نو د هماغه ځای تجارتی محکمه د فیصلی کولو او داحتیاطی عملیاتو داجرا د پاره د نایب په حیث ټاکلی شی.

**څلور څلوېښتمه ماده:**

د احتیاطی تدبیرونو په باب د فیصلی غوښتنه محکمی ته د درخواست په وړاندی کولو پورې غوټه ده، ددی درخواست له کبله

(c) ketabton.com: The Digital Library



مقابل لوری سمدستی را غوښتل کیږی او که هغه حاضر هم نه شی نو هغه فیصله چه په کارده دده په غیاب کښی هم کیدی شی.

**پنځه څلویښتمه ماده:**

د احتیاطی تدبیرو نو په سلسله چه کومه فیصله د ضرورت په وخت کښی د پولیس یا ژاندارم په وسیله د منقول یا غیر منقول مالونو د څارنی سپارښتنه کوی نو دغه د څارنی برخه د مربوطې تجارتی محکمی د خبر په اساس د دولت د اجرائیه ځانګو له پلوه اجراء کیږی مګر د فیصلی په ځای کول او نور ټول احتیاطی تدبیرونه د محکمی یوه غړی یا مامورینو او یا دواړو ته په شریکه سپارل کیږی.

**شپږ څلویښتمه ماده:**

هغه خواچه د احتیاطی تدبیرونو د کولو غوښتنه کوی هغه په دې پړ دی چه ددی فصل د (ب) د برخی له احکامو سره سم د مقابل لوری یا دریمګړو کسانو د احتمالی تاوان زیرمه و کاندی او که چیرې د احتیاطی تدبیرونو غوښتنوال رسمی یا د دولت د پالنی لاندی دائری وی نو بیا د بیلوز یر مو ورکول ضروری نه دی، تش یو لیکلی تعهد کفایت کوی. د تاوانونو د اندازی ټاکل د هغی محکمی کاردی چه دزیرمی د غوښتنی مطالبه یی منلی وی.

**اووه څلویښتمه ماده:**

کله چه هغه خوا چه دده خلاف احتیاطی تدبیرونه شوی دی د تاوان زیرمه ورکاندی نو بیا د وضعی د تقاضو سره سم دغه احتیاطی تدبیرونه بدلېدی یا لیری کېدی شی.

**اته څلویښتمه ماده:**

هغه پاڼی چه په احتیاطی تدبیرونو پورې اړه لری د دعوی په دوسیه کښی ایښودل کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ب: زیرمې**

**نهه څلوېښتمه ماده:**

تجارتی محکمی صلاحیت لری چه د مقابل لوری او درېیمګړو کسانو د تاوان او د محکمې د لګښت او محصول پوره کولو د پاره د ضرورت په وخت کښی د زیرمی د اخیستلو په باب فیصله و کاندی.

**پنځوسمه ماده:**

هغه تأمینات چه په دعوی کښی ورکول کېدی شی نقدی پیسې، سهمونه، د پور اسناد، منقول، غیر منقول مالونه دی او یا د یو اعتباری بانک ضمانت دی چه د محکمې له خوا تعیین او قبلیږی، د قانونی سند په اساس ضامن ورکول هم د زیرمی حکم لری.

**یوپنځوسمه ماده:**

د زیرمی غوښتونکی هم آن که بهرنی اتباع وی چه په افغانستان کښی قانونی استوګنځی نه لری په دی پړ دی چه دپنځوسمی مادی مطابق زیرمه ورکاندی. دا حکم په هغو کسانو هم چلیږی چه په روانه محاکمه کښی خپل استوګنځی په بهرنیو ملکونو کښی غوره کړی.

**دوه پنځوسمه ماده:**

په کار دی چه د زیرمی غوښتنه یا خو د دعوی د سوریدو سره سم او یا د محاکمی په جریان کښی چه د محاکمی ختم نه وی اعلام شوی وشی.

**دری پنځوسمه ماده:**

د دعوی د سوریدو نه مخکښی زیرمی غوښتنه په دی شرط کېدی شی چه دعوی په یو رسمی سند باندی تکیه وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څلور پنځسمه ماده:**

که چېرې په هغه موده کښې دننه چه محکمه ئی ټاکی د زیرمی دغوښتونکی له پلوه معین تضمین ورنه کړی شی نو داسی ګڼل کیږی چه دی زیرمی له غوښتونه په شاشوی دی.

**پنځه پنځوسمه ماده:**

زیرمی په باب د محکمی حکم باید چه مقابل لوری ته خبر ورکړ شی او بیا اجرأ کړی شی مګر هله نه! چه سمدستی خبر ورکول ممکن نه وی، یائی د اجرأ ځند د غوښتل شوی زیرمی د تاوانیدو یا زیانیدو سبب کیږی. په دی صورت کښی اول د زیرمی حکم په ځای کیږی او بیا ورپسی خبر ورکول کیږی.

**شپږ پنځوسمه ماده:**

که چېرې د زیرمی علتونه له منځه لاړشی نو مربوطه محکمه د زیرمی ورکوونکی د غوښتنی په اساس د زیرمی د لیری کولو حکم ورکوی، او که چېرې د محکمی حکم دزیرمی د دعوګیر د اصلی دعوی د بطلان په باب صادر شی، نو تأمینات پخپله له منځه ځی.

**اووه پنځوسمه ماده:**

د تأميناتو د منلو يا نه منلو په حکم چه د مربوطی محکمې له خوا صادر شی مرافعه او تمیز نه شی غوښتل کیدی.

**اته پنځوسمه ماده:**

که چېری په زیرمی غوښتونکی باندی د محکمی له خوا د بطلان حکم وشی مقابل لوری کولی شی چه د زیرمی دورکولو په چاره کښی چه ورته کوم تاوان اوښتی وی چی هغه له ده نه وغواړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نهه پنځوسمه ماده:**

د زیرمی د اعتباریتوب او بی اعتبارۍ یا د کفایت او نا کافی توب په سرد پیښ شوی اختلاف پریکړه به هغه محکمه کوی چه په اصل د عوی باندی دغور کولو وظیفه ور په غاړه وی.

**شپیتمه ماده:**

که په زیرمی کښې ورکړی شی یو معین عین وی او څارنی لاندی نیول ئې ممکن وی نو محکمه دا نه شی کولی چه د هغه په ځای نورمال د څارنی لاندی ئی ونیسی.

**یوشپیتمه ماده:**

که چېری په زیرمی کښی ورکړی شی یا خومعین عین نه وو او یا که ووخو دڅارنی لاندی نیول کیدی نه شو،نو محکمه کولی شی چه د غوښتل شوی زیرمی د قیمت هو مره مال د مدعی علیه له شتمنۍ څخه ترڅارنی لاندی ونیسی.

**دوه شپیتمه ماده:**

هغه څوک چه د زیرمی د پاره ضامن ورکول کیږی، کیدی شی چه یو تن یا څو کسان وی. که چېری ضامنان ډیر وو نو هر یو په دی پړدی چه په ضمانت لیک کښې دا خبره ښکاره ولیکی چه دده د زیرمی د څومره اندازی ضمانت کړی دی او که داسی ئی و نه کړل نو هر یو مسلسل مسئولیت لری.

**دری شپیتمه ماده:**

دا لاندینی کسان بې د مقابل لوری له رضا د ضامن په توګه قبلیدی نه شی:

۱- د دولت او ښاروالیو مامورین.

۲- هغه کسان چه وظیفوی مصئونیت لری.

۳- د مؤکلینو دپاره خپل د دعوی وکیلان.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څلور شپیتمه ماده:**

څوک چه د زیرمی ضامن ورکوی په کار دی چه خپل ضامن محکمی ته راولی او یا اصولی ضمانت لیک محکمی ته وړاندی کړی. څوک چه ضامن ورکوې هغه په دی پړ دی چه د هغی د محکمی په وړاندی چه ضمانت پکښې لیکل کیږی د خپل ضامن یا ضامنانو مالی اعتبار ثابت کړی. که چیری یو اعتباری بانک یا تجارتی شرکت ضمانت و کاندی او محکمه د دغه بانک او شرکت مهر یا امضأ پیژنی نو محکمی ته ئې د اصولی ضمانت خط د لیکلو په وخت کښې د نمایند ګانو د راتلو ضرورت نه شته.

**پنځه شپیتمه ماده:**

د هغه ضامن ضمانت چه په سر شخصاً محکمی ته حاضریږی د دعوی د ضبط په کتاب کښې ساتل کیږی په ده امضأ کیږی او دا ضمانت لیک د رسمی ضمانت لیک حکم لری.

**شپږ شپیتمه ماده:**

که چیرې غیر منقول مالونه د محکمی له پلوه تر څارنی لاندی ونیول شی نو د محکمی دفتر په دی پړ دی چه د زیرمه وا ل د نوم، شهرت او د ټولو نښو نښانو او د زیرمې د نوع او تر څارلاندی نیول شوی ټول مال د خصوصیاتو لیکلی اطلاع د زیرمی د حکم د ابلاغ نه پس په دوو ورځو کښې د ننه مربوطو مراجعو ته ور کړی.

**اووه شپیتمه ماده:**

د څارنی لاندی د غیر منقول مالونو نیول په کار دی چه په داسی طریقه وشی چه په مقرراتو کښې په صراحت ذکروی.

**اته شپیتمه ماده:**

د مالونو او شیانو مهرولاک کول، یائې د ضمانت په اساس پخپله دعوه والو یا دریمګړو کسانو ته سپارل د محکمی په نظریه پورې اړه لری.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نهه شپیتمه ماده:**

د تجارتی هتهی، د شیانو او منقولو مالونو مهرولاک کول چه د ضرورت په وخت کښې د محکمی د حکم له مخه کیږی په کار دی چه دغه کار د محکمی د یو غړی، منشی او ددغی ناحیې د مدیرنه دیو جوړ دری کسیز هیئت له طرفه او ښه به داوی چه دواړه خواوی هم حاضری وی وشی، او که داسی نه وی نو که یوه خوا نه وی یا دواړه خوا وی نه وی نو هم عملیات اجراء کېدی شی.

**اویایمه ماده:**

دیوی سیمی انضباطی مامورین، سرای داران او څوکی داران دوظیفی د غوښتنی له مخه د هغو شیونو او مالونو په ساتنه مؤظف دی چه د محکمی له خوا مهر ولاک او دڅارنی لاندی نیول شوی وی، ددغه مهرولاک ماتول بی دمحکمی له اجازی منع دی او که څوک دا کار وکړی نو هغه یواځې دا نه چه د مربوطو مقاماتو د جزائې تعقیب لاندی راځی بلکه د تجارتی مربوطی محکمی له خوا پری دپیښ شوی تاوان ور کولو حکم هم خیژی.

**یو اویایمه ماده:**

د څارنی لاندی دداسی مالونو نیول چه تلف کیږی منع دی په کار دی چه داسی مالونه په (۶۹) مادهٔ کښې دذکر شوی دری کسیز هیأت په لاس خرخ کړی شی او قیمت ئې تر څارنې لاندی و نیول شی.

**دوه اویایمه:**

په هر وخت چه منقول یا غیر منقول مال د څارنې لاندی نیول کیږی او داسی احتمال وی چه که څارنه جاری پاتی شی نو کیدی شی چه یا خو مال تلف شی او یائې بیه را کوزه شی نو هریوه خوا حق لری چه ددغه مال د خرڅلاو غوښتنه وکړی خو که چېرې مقابل لوری د مال په خرڅلاو خوښ نه وو او کوم تاوان چه د مال څارلې د اجاری ساتلو له کبله پېښیده، هغه ئې قبلاوه نو دهمده په خوښه به رفتار کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خرڅون په صورت کښې به د مربوطی محکمی مامور د خرڅون کتنه کوی او د خرڅ شوی مال قیمت به د محکمی یا یو اعتباری بانک په خزانه کښې امانت ږدی.
مقابل طرف هم دخرڅلاو په وخت کښې دکتنی کولو حق لری.

**دری اویایمه ماده:**
کله چه زیرمه و ال یا دده ضامن د زیرمی ورکولو د حکم د اجرا په وخت کښې پر دی مال د خپل مال په نامه تیرکړی او ځار لاندی ددغه مال د نیولو په باب اجراآت هم وشی نو د زیرمی غوښتنوال د مال ښتن ته د اوښتنی تاوان په ورکولو پړ نه دی او د مال ښتن به د اوښتی تاوان دپاره فقط هغه سړی ته مخ اړوی چه دده مال یې د خپل مال په نامه تیر کړی دی.

**څلور اویایمه ماده:**
که چیرې هغه مالونه یا نقدی پیسی چه د ځارلاندی نیول کیږی. له درپیمګړی سره وی، یا دځارنې موضوع یوه داسی غوښتنه وی چه د زیرمه وا ل ئې له یو درپیمګړی څخه لری نو د ځارنې په باب د حکم اطلاع به دمحکمی له پلوه دغه شخص ته ورکوله کیږی او هغه ته د محکمی له خوا ددغه حکم درسیدو یورسید لیک به هم تری اخیستل کیږی او دا ټولې خبرې به د زیرمی ورکوونکی ته رسول کیږی.

**پنځه اویایمه ماده:**
که چیری دغه در پیمګړی شخص د ټول مال یا د مال له یوی برخې یا طلب نه منکروی نو په کار دی چه ددغه موضوع خبر هغه محکمی ته چه د ځارنی حکم ئی راویستلی وی د ځارنی د حکم له ابلاغه پس په دوو ورځو کښې د ننه و رسول شی او که داسی ئی و نه کړل نو دی به د مال یا طلب دورکړی ذمه واروی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شپږ اویایمه ماده:**

که چېری د زیرمی غوښتنوال دا ثابته کړی چه د څارنی لاندی د نیولو په باب د محکمی د حکم د صادریدو په وخت کښې ئی له درېیمګړی سره مال یا طلب موجود وو او هغه په دروغه منکر شوی دی او یا داچه دغه درېیمګړی سړی د مال یا طلب له ورکړی نه چه ورسره دی ډډه وکړی نو د مربوطه محکمی په حکم به عین دغه مال او یا دهغه سره برابر مال دده له ماله څخه اخیستل کیږی. که چېری داسی وی چه مال ئی په لاس نه راځی تر څو چه ئی مقابل لوری ته اوښتی تاوان پوره کړی نه وی د محکمی په حکم به بندی وی.

**اووه اویایمه ماده:**

د زیرمی غوښتنوال د هغه مال نه چه د څارنی لاندی نیول شوی دی دخپل پور په باب د فایدی اخیستلو په کار کښې تر نورو غوښتنوالو باندی د مخکښې والی حق لری.

## نهم فصل
## خبرول او راوستل

**اته اویایمه ماده:**

هغه مدعی یا مدعی علیه چه د محکمی په قضائی وند کښې هستوګنه نه لری په دی مکلف دی چه ددغی محکمی په قضائی وند کښې د ننه ځای وټاکی چه د خبرولو او راوستلو چاره ئی آسانه شی.

**نه اویایمه ماده:**

هغه څوک چه په محکمه کښې د دعوی د وړاندی کولو دځان دژغورولو اهلیت نه لری د محکمی له پلوه خبر دهغوی قانونی ښکارندویا نو (ممثلینو) ته ورکول کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اتیایمه ماده:**

حقوقی اشخاصو ته خبر د هغوی د ښکارندویانو په نامه ورکول په کاردی.

**یو اتیایمه ماده:**

د یوی تجارتخانی د معاملا تو نه د راپور ته شوی دعوې په باب خبر هغه چا ته ورکول کیږی چه ددغی تجارتخانی چاری اداره کوی.

**دوه اتیایمه ماده:**

په هغو دعوو کښی چه وکیل ئی وړاندی کوی، خبر وکیل ته ورکول کیږی.

**دری اتیایمه ماده:**

که چېری هغه څوک چه خبر ورکول کیږی د خبر د پاڼی اخیستلو نه ډډه وکړی نو د محکمی خبروال به د کوڅی د دوو کسانو په مخکښې یوځل بیا دغه پاڼه ده ته ښیئی او که هغه بیا هم وانه خیسته نو داپېښه به د خبر په پاڼه کښې لیکل کیږی او بیا پاڼه د دغو دوو کسانو او خبروال د لاس لیک نه وروسته دمحکمی دفتر ته سپارله کیږی او دغه سړی به چه خبر ورته شوی دی د محکمی په امر د پولیس په لاس راغوښتل کیږی.

**څلور اتیایمه ماده:**

په یو پردی هېواد کښې د خبرولو کار د افغانستان د خارجه چارو د وزارت له خوا د همدغه هېواد د واکمنو مقاماتو په وسیله کیږی.

**پنځه اتیایمه ماده:**

د چا چه هستو ګنځی یا دیره ځای معلوم نه وی هغوی ته خبر د اعلان په تو ګه کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شپږ اتیایمه ماده:**

هغه خبر چه د اعلان به شکل د محکمې په فیصله د موجبه اسبابو د یادونی سره صادریږی اجرأیې دالاندی شرطونه لری:

الف: هغه پاڼی چه اعلانیږی داعلان د نېټې تر پایه پورې به د محکمی په دیوال ځوړندې وی.

ب: د خبر پاڼه باید چه د قضائی ونډ د کرښی په دننه رسمی جریده کښې اعلان شی.

څو پورې چه داسی رسمی جریده تأسیس کیږی د خبر پاڼه به د محکمی د قضائی ونډ دننه په یوه داسی جریده کښی چه محکمه ئی ټاکی اعلانیږی.

**اووه اتیایمه ماده:**

په کار دی چه په اعلان کښې ددواړو خواوو نومونه او پوره پته، ددعوی موضوع، د اعلان صادریدو ځای او که په اعلان کښې د حاضریدو حکم هم وی نو د حاضریدو ځای، ورځ او ساعت دی ولیکل شی.

**اته اتیایمه ماده:**

که چېرې مقابل لوری په راډیو کښې د اعلان د خپریدو لګښت په غاړه واخلی نو د خبرپاڼه په راډیو کښی اعلانیدی شی خودا اعلان به تش د پوهولو دپاره وی او قانونی اعتبار یواځی هغه اعلان لری چه په شپږ اتیایمه ماده کښې دښودل شوی لاری مطابق شوی وی.

**نهه اتیایمه ماده:**

د مدعی او مدعی علیه نه پرته چه کوم اشخاص دمحکمی دقضایی ونډ نه بهر په افغانستان کښې اوسی، هغه محکمه چه په دعوی باندې غور کوی د خبر پاڼه هغوی ته د هغی محکمی په لاس ددی قانون په حکمونو برابر ورلیږی چه دوی دهغی د قضائی سیمی دننه هستوګنه لری، محکمه واک لری په هغوحالاتو کښې چه لازمه وګڼی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دخبر پاڼه دهغه خوا په موافقه او لګښت چه خبر د هغه په ښیګړه وی نوموړی خلکوته تیلګرامی ورواستوی.

**نوی یمه ماده:**

د خبرپاڼی په ګڼ شمیرپه کار دی، چه یوه ئی په مربوطه دوسیه کښې وساتله شی او نوری ئی هغو کسانوته وسپارلی شی چه خبر ورته ورکول کیږی.

**یونوی یمه ماده:**

د خبر پاڼه باید چه دا لاندی نکتې ولری:

الف: چاته چه خبر ورکول کیږی د هغه نوم مکمل شهرت او د پوره پته ښودنه.

ب: په څرګند ډول د راغوښتلو د علت ښودنه.

ج: دراغوښتل شوی د راتلو ورځ او ساعت ښودنه.

د: د محکمی نوم او پته ښودنه.

هـ: د رئیس اومنشی لاس لیک او د محکمی مهر.

**دوه نوی یمه ماده:**

هغه څوک چه محکمی ته راغوښتل کیږی په کار دی چه پخپله حاضر شی، یا خپل قانونی وکیل ورته راولیږی او که د نه راتلو دپاره کوم په عقل برابر عذر لری نو باید چه د راتلو دپاره ده ته د ښودل شوی ساعت نه څلورویشت ساعته آګاهو دی دخپل دغه عذر اطلاع محکمی ته ورسوی. که چیری محکمه په سر د یو چا راتلل ضروری ګڼی او د وکیل راتلل ئی کافی نه بولی نو په کار دی چه د راغوښتو په پاڼه کښې دغه ټکی څرګند ولیکی چه په دغه صورت دغه په سر راغوښتل شوی شخص پخپله محکمی ته حاضر شی.

**دری نوی یمه ماده:**

که چیری هغه څوک چه په سر راغوښتل شوی دی په داسی ځای کښې هستوګنه لری چه په دعوی باندی دغور کوونکی محکمی د قضائی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ونړ نه بهر وی نو محکمه کولی شی چه هغه اظهارات ددی قانون په حکمونو برابرد قضائی نیابت په اساس واخلی.

## لسم فصل
## د غونډو سمون

**څلورنوی یمه ماده:**

محاکمه په تجارتی محکمو کښې په ښکاره کیږی.

**پنځه نوی یمه ماده:**

د اداری او انضباطی چارو څارنه، دغه شان ددی قانون په ښودلو پولو کښی دننه د غونډو سمون او ترتیب د محکمی درئیس وظیفه ده. دمحکمی رئیس په دواړو خواوو کښی هری یوی ته د بیان او اظهار موقع ورکوی، هغوی د زیاتی پاتی وینا څخه منع کوی او څوک چه د غونډی په سموالی کښې ګډوډی را پیدا کوی هغوی له محکمی څخه وباسی. که چېری څوک په محکمه کښی یو ناوړه کار وکاندی محکمه ورته ددی قانون په حکمونو برابر انضباطی جزاء ورکوی. دغسی انضباطی فیصلی غوتی (قطعی) پریکړی دی چه مرافعه او تمیز پری نه شی غوښتل کیدی.

**شپږ نوی یمه ماده:**

د دعوی دواړه خواوې یا دهغوی وکیلان پدی مکلف دی چه خپله دعوی یا د دعوی دفع په دوو نسخو کښی محکمی ته وړاندی کړی د محکمی منشی د محکمی د رئیس له امره سره سم هغه د دعوو لیکلو په کتاب ثبتوی که چېری دعوی له یوه په زیاتو کسانو باندی وی نو په کار دی چه زیاتی نسخی د شخص په سر یوه یوه ویشی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اووه نوی یمه ماده:**

د دعوی د بهیر په وخت کښې د محکمی منشی ددغی دعوی په باب ټولی پاڼی لکه د پوهانو نظریه د شاهدانو ویناوی او نور ددعوو لیکلو په کتاب کښی ثبتوی.

**اته نوی یمه ماده:**

د دعوی دواړه خو اوی یا د هغوی وکیلان کولی شی چه د رئیس په اجازه د محکمی د منشی د څارنی لاندی د خپلی لاټجې په باب دوسیې او د دعوو د لیکلو کتاب ولولی.

**نهه نوی یمه ماده:**

د مدعی او مدعی علیه د جوابونو ورکولو موده دمحکمی له خوابنودله کیږی خو دغه موده له یوی میاشتی نه زیاتیدلی نه شی.

**سلمه ماده:**

په هغه موده کښې چه د مدعی او مدعی علیه د جوابونو د پاره د محکمی له خوا ښودل شوی ده د دواړه خواو د دلیلونو له اوریدلو ورسته د مربوطه محکمی له پلوه لږیدی او ډیریدې شی.

**یوسلو یوومه ماده:**

په نه نو یمه اوسلمه ماده کښی یاده شوی موده هغه چاته له ابلاغیه وروسته چه مهلت ورکړی شوی دی شروع کیږی.

**یوسلو دوه یمه ماده:**

که چیری دهغه سړی هستوګنځی چه ورته مهلت ورکړشوی دی د محکمی دقضائی وندِ نه بهر وی، نو په هرو دوولسو میلو پسی یوه ورځ د زیات مزله مهلت ورکول کیږی.

**یوسلو دریمه ماده:**

دهغه مدعی او مدعی علیه دجواب موده چه په افغانستان کښې معلوم دیره ځای نه لری، دخپلی محکمی له خوا ورته د یوی نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترڅلورو مياشتو پورې ټاکله کيږي او د محکمې له خوا په جريدو او راډيو کښې د وروستۍ اعلان د خپريدو له نېټې څخه شپږ اتيايمې اواته اتيايمې مادې مطابق شروع کيږي.

**يوسلو څلورمه ماده:**
که چېرې په يوه دعوی کښې مدعي او مدعی عليه ګڼ کسان وې، نو ترټولو اوږده موده چه کوم يوه ته ورکوله کيږي، ټول په هغې کښې شامل دي.

## دوه يم باب
## لومړنۍ مرحله

## لومړی فصل
## په ابتدائي محکمه کې ددعوو وړاندې کول

**يوسلو پنځمه ماده:**
کله چه محکمه د يوې دعوی د شروع کيدو حکم وکړي او د محکمې د دفتر ټاکلي محصول تحويل کړی شي، نو دعوی له همدغې نېټې سوره شوې ګڼل کيږي.

**يوسلوشپږمه ماده:**
په کار دي چه د دعوې سورولو غوښتنه په يوه چاپې عريضه کښې چه رسمي دائروته د مراجعې د پاره ټاکلې شوي دي وليکله شي، که چاپې عريضه نه وي نو بايد چه په غوښتنليک باندې د دوو افغانيو د صکوکو ټکټ ولګول شي.

**يوسلو اوومه ماده:**
د دعوې سورولو په غوښتنه کښې بايد چه داټکي روښانه وي:
۱- د مدعي مکمل شهرت يعني:
الف: د مدعي نوم او دهغه د پلار نوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ب: د تذکری لمر او تاریخ ئی.
ج: دیره ځای ئی.
د: کار او کسب ئی.
۲- د مدعی علیه یا مدعی علیهم مکمل شهرت.
۳- د هغه شی تعیین چه په دعوی کښی پروت وی.
۴- د غوښتنې نېټه.
۵- اصل ادعا.

**یوسلو اتمه ماده:**

مدعی په دی مکلف دی چه د هغو پاڼو او سندونو تصدیق شوی نقل چه دی پری استناد کوی د دعوی سورولو د غوښتنی سره یو ځای د محکمی دفتر ته وسپاری. که چېری محکمه لازمه وګڼی نوله خپله پلوه یا د مدعی علیه په غوښتنه کولای شی چه مدعی ته ووایی چه اصل پاڼی محکمی ته وښیه.

**یوسلونهمه ماده:**

که چېری ددعوی سورولو غوښتنه د وکیل په لاس محکمی ته وړاندی شوی وې نو په کار دی چه وکالت پاڼه هم ورسره یوځای وی.

**یوسلولسمه ماده:**

ددعوی سورولو د غوښتنی د رسیدو سره سم په کار دی چه منشی هغه د محکمی په دفتر کښې ثبت کړی او د دواړو خواوو د مکمل شهرت، دغوښتن لیک د تاریخ او د ورسره پاڼو رسید مدعی ته ورکړی.

**یوسلو یوولسمه ماده:**

که چېرې د دعوی سورولو غوښتن لیک د یوسل پنځمی، یوسل شپږمې او یوسل اوومی مادی د ښودنی سره سم نه وی تیار شوی، نو د محکمی منشی د غوښتن لیک د رسیدونه پس په پنځو ورځو کښی دننه دنننه دهغه نواقص د محکمی د رئیس له نظره تیروی او د رئیس

(c) ketabton.com: The Digital Library



په امر دغه غوښتن لیک د نیمګړتیا پوره کولو د پاره مدعی ته بیرته ورکوی.

**یوسلو دوولسمه ماده:**

مدعی حق لری چه د دعوی سورولو نه پس هر کله چه وغواړی د محکمی په اجازه دعوی پریږدی.
که چیری محکمی ته دا ښکاره شی چه دی دا دعوی د بدنیتی له مخه پریږدی نو مکلفه ده چه ده ته د دعوی پریښودلو اجازه ورنه کړی، بلکه دی به مکلفوی چه یا له دعوی نه ابراء و کاندی او یائی جاری و ساتی د دعوی پریښودلو د اجازی په حالت کښی مدعی پدی مکلف دی چه مقابل لوری ئی خومره تاوانی کړی دی. که چیری مدعی علیه یی غواړی او محکمه ئی تشخیص وکړی چه هغه مدعی علیه ته ورکړی د دعوی پریښودلو محصول کټ مټ د دعوی نه دابرا د محصول هومره دی.

**یوسلو دیارلسمه ماده:**

مدعی د مدعی علیه د رضانه پر ته دا نه شی کولای چه خپله دعوی د سوریدلو نه پس پراخه کاندی.

## دوه یم فصل
## لومړنی اعتراضونه

**یوسلو څوار لسمه ماده:**

لومړنی اعتراضونه دادی:
۱: د محکمی د صلاحیت نه لرلو ادعا.
۲: د دعوی سورولو په باب د مدعی د قانونی اهلیت یا صلاحیت نه لرلو ادعا.
۳: په مدعی علیه پوری د سوری شوی دعوی داړی نه لرلوادعا.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴: ددی خبرې ادعا چه سورې شوی دعوی یوځل پخوا د همغو کسانو ترمنځ چه په دی دعوی کښې دواړه خوا وی دهغو په ځای ولاړی دی خپل جریان تیر کړی او د یوی واکمنی محکمی له خوا په دغه باب غوڅ پریکړی حکم وتلی دی.
۵: ددی خبرې ادعا چه سوره شوی دعوی د وخت تیریدو د قید لاندی راغلی ده.
۶: ددی خبری ادعا چه سوره شوی دعوی په یوه بله داسی تجارتی محکمه کښی هم دائره ده چه کټ مټ ددی محکمی هومره صلاحیت لری.
۷: د دی خبری ادعا چه سوره شوی دعوی د یوی بلی داسی دعوی سره پیوند لری چه په یوه بله محکمه کښی دائره ده او په کار دی چه دا دعوی قانوناً هغلته غوڅه شی.

**یوسلو پنځلسمه ماده:**

که چیری د یوسل او څوارلسمی مادی دوهمه، دریمه، څلورمه، پنځمه فقره ثابته شی نو په کار دی چه محکمه په دعوی باندی دغور کولو نه ډډه وکړی او د رد حکم وکړی.

**یوسلو شپاړسمه ماده:**

که چېری د یوسلو څوارلسمی مادی اوله، شپږمه او اوومه فقره ثابته شی نو په کار دی چه محکمه په دعوی باندی دغور کولو نه ډډه وکړی او د دعوی دوسیه هغی محکمی ته چه تعلق ورپوری لری په لسو ورځو کښی د ننه له حکم کولو نه پس د غور د پاره ولیږی خوهله نه! چه یوی خوا د یوسلو اووه لسمی مادی د حکم سره سم د جار وتلو (استیناف) غوښتنه کړی وی.

**یوسلو اووه لسمه ماده:**

د دواړو خواو نه هره یوه چې د محکمی حکم دهغی خلاف وی، کولی شی چه د ابتدائیه محکمی د فیصلی د لیکلی خبر نه پس ترشلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځو پوری مرافعه و غواړی او که د مرافعه محکمی په فیصله ئی قناعت و نه شی د مرافعه محکمی د فیصلی دلیکللی خبرنه پس په لسو ورځو کښی تمیز وغواړی.

**یوسلو اتلسمه ماده:**

که چېری په یوسلوڅوارلسمه ماده کښی راغلی اعتراضونه د دعوی په اصل موضوع باندی دغور کولو نه مخکښی نه وی وړاندی شوی نو په دعوی باندی د غور کولو او د محاکمی په جریان کښی نه شی اوریدل کیدی.

**یوسلو نولسمه ماده:**

دمدعی علیه لومړنی اعتراضونه په هغه موده کښی دننه چه په اصلی موضوع باندی داعتراضونو په باب په درېیم فصل کښی ټاکل شوی ده، مدعی ته رسول کیږی او پخپله ټاکلی موده کښی دننه د مدعی نه ځواب اخیستل کیږی.

## درېیم فصل
## د اصل موضوع په باب اعتراضونه

**یوسلو شلمه ماده:**

که چېری مدعی یا دهغه وکیل لومړنی اعتراضونه وړاندی کړی، نو پدی مکلف دی چه د اصل موضوع په باب خپل ځواب ده ته د خبر ورکولو له تاریخه و وروسته د پنځلسو ورځو په ترڅ کښی او یا په هغه موده کښی د ننه چه د محکمی په خوښه د پنځلسو ورځو نه زیاته ټاکل کیږی په دوو نسخو کښی تیار کاندی او د خپلو ټولو هغو اسنادو سره چه په لاس کښی ئی لري او دی پری تکیه کوی محکمی ته وړاندی کړی.

د محکمی منشی د ده د ځوابونو یوه نسخه د دعوو ضبطولو په کتاب ثبتوی او بله نسخه ئی د رسید په بدل کښی مقابل لوری ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکـوی او پــه وړانــدی شــویو ســند و نــو د محکمــی مهــر لګــوی، محتویات ئی د دعـوو ضبطولو کتـاب تـه رسوی او اصـل سندونه د رسید په بدل کښی بیرته خپل خاوند ته ورکوی چه د ضرورت په وخت کښی ئی محکمی ته وښیی.

**یوسلو یو ویشتمه ماده:**

په تجـارتی ابتدائیـه محکمو کـښی اوادعـا د مـدعی او مـدعی علیـه مدافعه زیات نه زیات دری واری د دواړو خواو ترمنځ غیر کیږی.

## څلورم فصل
## جوابی دعوی

**یوسلو دوه ویشتمه ماده:**

مـدعی علیـه حق لـری چـه د مـدعی د دعـوی پـه مقابـل کـښی دی هـم ددعـوی اقامه وکړی او په کار دی چه دا دعوی له اصل دعـوی سره په منـشأ کـښی شـریکه وی او د اصـل دعـوی پـه بـاب تـصمیم پـه هغـی باندی تاثیر اچوی.

**یوسلو درویشتمه ماده:**

په کار دی چه په جوابی دعوی کښې د اصل دعـوی د دفعـې نـه عـلاوه په مدعی نوی دعـوی هم وی.

**یوسلو څلیرویشتمه ماده:**

په کار دی چه جوابی دعوی د یوی ځانګړی غـوښتنی په موجب سـوره کړه شی.

**یوسلو پنځویشتمه ماده:**

کـه چیـری د مـدعی علیـه دعـوی جـوابی نـه وی، نـو محکـمه بـه پـه ځـانګړی صـورت پـه دعـوی غـور کـوی او کـه چیـری پـه دغـه دعـوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



باندی غور کول د دغی محکمی په صلاحیت کښی نه ؤ نو محکمه به د یوی فیصلی په اساس خپله ناصلاحیتی په دغه باب اعلانوی.

**یوسلو شپږ ویشتمه ماده:**

په جوابی دعوی کښی دادعا او دواړو خواوو د دفعو په باب د دی قانون د یوسلو شلمی مادی حکم چلیږی.

**یوسلو اووه ویشتمه ماده:**

که چیری مدعی خپله اصل دعوی د یوسلو دوولسمی مادی د حکمونو سره سمه پرینبوده نو د جوابی دعوی مدعی کولی شی چه خپله دعوی د دی قانون د احکامو سره سم جاری وساتی.

## پنځم فصل
## په دعوی باندی غور

**یوسلو اته ویشتمه ماده:**

محکمه د دعوی په هره مرحله کښی کولی شی دواړه خواوی یا د هغوی وکیلان را وغواړی او یو د بل په مخکښی د دوی ویناوی د هغه کشالی په باب چه اختلاف پری پیښ دی اوریدی او د ځلوښتمې مادې د پاملرنی سره سره دوی ته د صلحی کولو تشویق ورکولی شی.

**یوسلو نهه ویشتمه ماده:**

د دواړو خواوو ترمنځ د یوسلو یوویشتمی مادی سره سم د ادعا او د فعی دوراندی کیدلونه پس که چیری محکمی ته دا ثابته شی چه په دعوی باندی کافی څیړنه او غور شوی دی او اوس پری د حکم د صادریدو وخت دی نو دواړو خواو ته د غور د ختمیدو خبر ورکوی او که داسی نه وه نو د ضرورت په وخت دواړه خواوی راغواړی او د نیمګړی برخو په باب تری توضیحات غواړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یوسلو د پرشمه ماده:**
د دواړو خواوو د حاضرولو د پاره چه محکمه شومره موده ټاکی د هغی زیاته اندازه لس ورځی ده، د مزله داوږدوالی له امله به محکمه ددی قانون د حکمونو سره سم په اصله موده باندی یوځه وخت زیاتوی، په فوق العاده حالاتو کښی محکمه پخپله او یا د دواړو خواوو نه د یوی په غوښتنه د حاضرو لوموده اوږدولی شی.

## شپږم فصل
## شاهدی

**یوسلو یو د پرشمه ماده:**
د دعوی د دواړو خواوو نه هر یو چه د شاهدانو په شاهدۍ باندی تمسک کوی په دې مکلف دی چه محکمی ته د خپلی ادعا وړاندی کولو په وخت کښې د مکمل شهرت، پتې او شمیر سره د شاهد د نامه یا شاهدانو د نومونو لست محکمی ته وړاندی کړی. دغه متمسک حق نه لری چه دغور په وخت کښی د نو یو شاهدانو او یا د هغو شاهدانونه غیر چه ده ئی نومونه مخکښی محکمی ته سپارلی دی د نورو شاهدانو نومونه وښیی. محکمه د غور په وخت کښی په شهادت متمسکه خوا په دی مکلفوی ټول ښوولی شاهدان یا د هغو له جملی ځینی کسان چه محکمه ئی خوښ کړی په هغه تاریخ چه محکمه ئی ښیی، راولی.
د ضرورت په وخت کښې پخلپه محکمه هم ښودل شوی شاهد یا شاهدان غوښتلی او راوستلی شی.

**یوسلو دوه دیریشمه ماده:**
که چېری شاهد د یو بلی قضائی محکمی په و نډ کښی هستوګنه لری، نو هغه محکمه چه په دعوی غور کوی، د هغی محکمی نه چه دی پکښی اوسی د اغوښتنه کولی شی چه د قضائی نیابت په اساس

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاهدی واوری او د شاهدانو و ینـاوی ثبت کړی او د نتیجـی اطـلاع رسماً هغی محکمی ته ورکړی چه په دعوی غور کوی.

**یوسلو دری د پرشمه ماده:**

شاهد به د اشرطونه لری:

**الف:** عاقل به وی.

**ب:** عمر به ئی له اتلسو کلونو کم نه وی.

**ج:** محجور به نه وی.

**د:** د شاهدی نه مخکښی به ئی کوم جنایت نه وی کړی.

**هـ:** د چا دپاره چه شاهدی وایی د هغه سره به د زوجیت یا د لـومړۍ او دوه یمی درجې خپلولی نـه لـری، نوکریـا بـا دار بـه ئـی نـه وی او دده د ګوزاری زیرمه به د هغه په غاړه نه وی.

**و:** په چا باندی چه شـاهدی وائـی د هغـه سره بـه ئـی داسـی دشـمنی نـه وی تیره شوی چه دلیل پری موجود وی.

**ز:** دده او هغـه چـا پـه مـنځ کـښی بـه چـه دی پـرې شـاهدې وائـی، د شاهدۍ په وخت په کومه محکمه کښې حقوقی یا جزائی دعوی روانـه نه وی.

**یوسلو څلور د پرشمه ماده:**

د دعـوه والـو هـره خـوا د یوسـل دری دیرشـمې مـادی د (هـ) (و) او (ز) فقرو په اساس شاهد رد ولی شی.

**یوسلو پنځه د پرشمه ماده:**

هغـه خـوا چـه د شـاهد ردول غـواړی پـه کـار دی چـه د رد غوښـتنه د شاهدۍ نه مخکښی محکمی تـه وړانـدی کړی او دلیلونـه هـم وښـیی. که چېری محـکمه د رد علت صـحیح وګڼـی نـو د شـاهد شـاهدی نـه شی اوریدلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یوسلو شپږ د پرشمه ماده:**
که شاهدان ګڼ وو نو محکمه به د هر یوه شاهدی یوائې او د نورو نه بیله اوری.

**یوسلو اووه د پرشمه ماده:**
په کار دی چه شاهدان د شاهدۍ نه مخکښې خپل نوم، مکمل شهرت او پته وښیی او ژبه وکړی چه ټول حقایق به بې له زیاتی کمی بیانوی.

**یوسلو اته د پرشمه ماده:**
په کار دی چه د محکمې رئیس شاهد ته د شاهدۍ ویلونه آګاهو هغه جزا بیان کړی چه قانون د ټګ او ناحقه شاهد د پاره ټا کلی ده.

**یوسلو نهه دیر شمه ماده:**
ضروری ده چې د شاهد بیان دده پخپل لیک او کتابت د دعوو ضبطولو په کتاب کی ثبت شی او په ده امضاء کړی شی، او که شاهد لیک نه شی کولی نو دده بیان به کټ مټ د محکمې د منشی له پلوه د دعوو ضبطولو په کتاب کښې ثبتیږی او تری لاندی به د شاهد ګوته یا مهر د دوو کسو په تصدیق لګول کیږی.

**یوسلو څلویښتمه ماده:**
د تجارتی دعوی په اثبات او پریکون کښې د شاهدۍ د تاثیر، ارزښت او اهمیت اندازه ټاکل د خپلې محکمې په واک کښې دی په داسی پېښو کښې چه هر یو دعوه وا ل د خپلې دعوی د اثبات د پاره یو اعتباری سند وړاندی کوی نو د مقابلی خوا دفع بی د اعتباری سند د لرلو او محکمې ته له ښودلو تش دشاهدانو په وسیله نه اوریدله کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یوسلو یوڅلوېښتمه ماده:**

ددعوی والو هیڅ لوری د شاهدۍ ویلو په وخت کښې د شاهد بیان غندلی یا نمانځلی نشی، ددعوه والو هره خوا چه د رئیس له پلوه د خبر داری ورکولو سره هم دغسی وکړی نو له محکمی ویستل کیږی.

**یوسلو دوه څلوېښتمه ماده:**

که چېری شاهد په پښتو یا فارسی نه پوهېده نو د ترجمان په خوله به تری ځواب غوښتل کیږی.

**یوسلو دری څلوېښتمه ماده:**

په تجارتی محکمو کښې د محکمی د حکم کولو د پاره د شاهدۍ د ضروری نصاب کمه اندازه دوه تنه دی.

## اووم فصل
## اهل خبره

**یوسلو څلور څلوېښتمه ماده:**

په هغو پیښو کښې چه په یوه دعوی باندی غور کول په فنی معلوماتو پوری تړلی وی، محکمه د دعوه والو یا دعوه وا ل په غوښتنه او یا پخپله د دی خبری حکم کولی شی چه د پوهانو نه دی پوښتنه وشی. د محکمی په حکم کښې به دهغه موضوع څرګند ذکر چه د پوهانو عقیده پکښې ضروری ده، قیدیږی او د هغی مودی ټاکل چه پوهان پکښې خپله عقیده څرګنده کړی، ضروری دی.

**یوسلو پنځه څلوېښتمه ماده:**

کله چه دواړه خواوی د پوهانو په ټاکلو اتفاق وی نو پوهان به د محکمی له پلوه خوښیږی، کیدای شی چه پوهان یو نفر یا ډیر کسان خوښ کړی شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یوسلو شپږ ځلوېښتمه ماده:**

د پوهانو په حیث هغه کسان خوښول په کار دی چه په مربوطه پېښه کښې د ضروری فنی معلوماتو خاوندان وی، هغه پوهان چه د یوسلو پنځه ځلوېښتمی مادی سره سم پخپله د محکمی له خوا ټاکل کیږی، ورسره ددې قانون د شهادت د فصل په یوسلو دری دېرشمه ماده کښې دراغلو شرطونو پاملرنه هم ضروری ده.

**یوسلو اووه ځلوېښتمه ماده:**

په هېڅا باندی ددی خبری زورنه شی کېدی چه که دده خوښه نه وی هم د اهل خبره په حیث دې خپله عقیده څرګنده کړی.

**یوسلو اته ځلوېښتمه ماده:**

د محکمی له پلوه د دواړو خواوو د بیان اوریدلونه پس محکمه هغه سوالونه ټاکی چه د پوهانونه ئی پوښتنه په کار ده. د دواړو خواو نه د پوهانو په باب ځواب او لیک غوښتل د محکمی په وړاندی د دواړو خواوو په حضور کیږی.

**یوسلو نهه ځلوېښتمه ماده:**

که چېری د پوهانو د حق الزحمی په باب مخکښې فیصله نه وی شوی، نو حق الزحمه د موضوع د څومره والی، څرنګوالی او د پوهانو د وخت اود زحمت د پاملرنی سره د محکمی له خوا ټاکل کیږی.

**یوسلو پنځوسمه ماده:**

که د پوهانو نه پوښتنه کول د دواړو خواوو نه د یوه په غوښتنه شوی وو نو حق الزحمه به هماغه خوا ورکوی.

که چېری د پوهانو نه پوښتنه د دواړو خواوو په غوښتنه یا پخپله د محکمی له پلوه شوی وه نو دواړه خواوی به نیمه نیمه حق‌الزحمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکـوی. پـه دوارو صـورتونو کـښې پـه کـار دی چـه پـه کـار بانـدی د پوهانو د لاس پورې کولو نه اول حق الزحمه محکمی ته ورکړه شی.

**یوسل یو پنځوسمه ماده:**

پوهان مکلف دی چه د محکمی لـه خوا پـه ښـودلی وخت محکمـی تـه حاضـر شـی او د هغـو موضـوعاتو پـه بـاب چـه د دوی نظریـه پکـښی غوښتل کیږی خپلی کتنی وکړی او په هغه موده کښی د ننه د ننـه چـه محکمه ئی ټاکی نتیجه پخپل لاس محکمی ته وړاندی کړی.

**یوسل دوه پنځوسمه ماده:**

محکمـه د هغـو ټکـو د پـوره کولـو او څرګنـدولو د پـاره چـه د پوهـانو ګونګ و ګنګل شی له پوهانو په راپور کی نیم ګړی اوڅخه بیـا پوښـتنه کولی شی.

د دوی د خولی توضیحات د دعووضبطولو په کتـاب خیـژی او د دوی نه پری د سخط اخستـل کیږی.

**یوسل دری پنځوسمه ماده:**

بـه کـار خـو دا دی چـه محکمـه د پوهـانو پـه نظریـه بانـدی پټ پـه پـرده کښی څیړنه وکړی خو که ضرورت پیښ شی نو محکمه د دوارو خوا ؤ په مخکښی د پوهانو په نظریه څیړ نه کولای شی.

**یوسلو څلور پنځوسمه ماده:**

د پوهانو نظریات د رایو د ډیرښت په اساس اخستل شی او د تجـارتی دعوو په پریکون کښی د قرینی په حیث پیژندل کیږی.

**یوسلو پنځه پنځوسمه ماده:**

که چیری محکمه د پوهانو نظریی ته اعتبار ور نـه کـړی نـو بیـا هـم یـو ځل نوی پوهان ددی فصل د حکمونو سره سم ټاکلی شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اتم فصل
## سندونه

**یوسلو شپږ پنځوسمه ماده:**
په هغه صورت کښی چه قانون په تجارتی محکمو کښی د یوی ادعا د ثبوت دپاره یو ډولو معین دلیل څرګند او په ګوته کړی وی نو د هغی ادعا ثبوت په بل ډول دلیلونو نه شی کیدی.

**یوسلو اووه پنځوسمه ماده:**
هغه مسایل چه ثبوت ئی د دواړو خواوو په اتفاق په معینو دلیلونومنل شوی وی د هغو د ثبوت دپاره نور دلیلونه منل کیدی نشی خو پدی شرط چه د دواړو خواوو اتفاق د قانونی حکمونونه مخالف نه وی.

**یوسلو اته پنځوسمه ماده:**
په دی قانون کښی د جعلیت د ذکر شویو حکمونو له پاملرنی سره سم هغه دفعی چه په سند باندی مستندو دعوو په مقابل کښی مینځ ته راځی په کار دی چه په سند باندی مستند وی.
**یوسلو نهه پنځوسمه ماده:**
ددی لاندی حالتونو په هر صورت کښی شاهد وړاندی کیدی شی:
الف: په داسی معاملو کښی لکه اور لګیدل یا ټکر چه سند اخستل پکښی یا خو ناممکن او یا خو را ډیر ګران کار وی.
ب: په هغو چاروکښی چه د دواړو د ایجاب یا وضعیت له کبله پکښی د سند تیارول د عرف او چال چلند تقاضا نه وی.
ج: د جبر او حیلی د پیښیدو په حال کښی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یوسلو شپیتمه ماده:**
که چیری د یوی ناڅاپی پیښی، یا د جبر د سببونو یا دور کیدلو له کبله د یو سند له منځه تللو په باب زړه منلی دلیلونه او قرینی موجودی وی نو په شاهدی باندی د دعوی اثبات کیدی شی.

**یوسلو یوشپیتمه ماده:**
هغه سندونه چه د داسی مقاماتو له خوا اصولاترتیب او تصدیق کیږی چه د قانون له مخی د هغو د تیارولو واک لری نو د تجارتی محکمو په وړاندی تر هغه وخته پوری اعتبار لری چه خلاف ئی ثابت شوی نه وی خو که محکمه ئی مشبوه وګڼی نو مثنی ئی پخپله له هغه مقامه چه دائی تیار کړی دی رسماً راغواړی:
دغه شان که اشتباه د سند په تصدیق کښی موجوده وی نو محکمه ئی پخپله تصدیق رسماً له هغه مقامه راغوښتی شی چه دغه تصدیق ئی کړی دی.

**یوسلو دوه شپیتمه ماده:**
هغه سندونه چه له افغانستانه بهر تیار شوی وی هله پری اعتبار کیدی شی چه د دوه دیرشمی مادی له حکمه سره سم تیار شوی او تصدیق شوی وی.

**یوسلو دری شپیتمه ماده:**
هغه غیر رسمی سندونه چه په محکمو کښی د هغو صحت منل کیږی د رسمی سند ماهیت مینده کوی.

**یوسلو څلور شپیتمه ماده:**
د کرښونه بهر یا هغه عبارتونه چه په وهلو کرښو د پاسه لیکل شوی وی په متن کښی وی که په حاشیه کښی اعتبار نلری مګر هله چه دغه برخی ځانګړی صورت د سند ورکوونکی امضا کړی او تصدیق کړی وی او یا د محکمی په مخکښی امضا شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یوسلو پنځه شپیتمه ماده:**

هغه عبارتونه چه د پو روالی له پلوه د ټول یا ځینی پور د رسیدلو په باب لیکل کیږی هله اعتبار لری چه پو روا ل ئی صحت منی.

**یوسلو شپږشپیتمه ماده:**

داسی غیر رسمی سندونه چه د سوداګرو ترمنځ رواج وی او چال چلند پری کیږی په تجارتی محکمو کښی چلیږی.

**یوسلو اووه شپیتمه ماده:**

د ټلګرام پاڼه چه څوپوري ئی د اصل سره مخالفت ثابت نه شی، په تجارتی محکمو کښی اعتبار لری، که چیری ئی اختلاف لاره نو بیائی اصل چه لیږونکی امضاء کړی وی اعتبار لری خو هله نه! چه مقابل لوری دا ثابته کړی چه ټلګرام جعلی دی.

**یوسلو اته شپیتمه ماده:**

د تجارتی دفترونو د محتویاتو اعتبار د تجارت د قانون سره سم محفوظ دی.

**یوسلو نهه شپیتمه ماده:**

هغه خواچه اصل سندئی په رسمی مقاماتو کښی وی او په دغه وجه ئی له ښودلو عاجز وی د محکمی په واسطه ئی راغوښتلی شی، د هغه سند ضروری لګښت چه د کتلو او تطبیق دپاره محکمی ته راغوښتل کیږی په هغه چا دی چه په دغه سند تکیه کوی.

**یوسلو اویایمه ماده:**

هغه خواچه په پردی ژبه یو سند محکمی ته ښیی، پدی مکلف دی تصدیق شوی ترجمه ور سره جوخته محکمی ته وړاندی کړی که چیری مقابل لوری یا محکمه په دغه ترجمه قناعت ونکړی نو رسماً د محکمی له خوا د سندوال په لګښت د هغه ترجمی ته اقدام کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یوسلو یو اویایمه ماده:**

د ادعا خاوند په دی پړدی چه ددی لاندی سندونو تصدیق شوی نقل اویا ئی په هر هغه صورت چه د محکمی له پلوه امر وشی محکمی ته وښیی.

الف: هغه ټول سندونه چه پخپله دعوی کی ئی پری تکیه کړی وی.

ب: هغه پاڼی او تیلگرامونه چه ددعوی په موضوع پوری تعلق لری..

**یوسلو دوه اویایمه:**

په هغه صورت کښی چه د محکمی له پلوه امر وشی د تجارتی دفترونو او حسابو نو اصل او یا تصدیق شوی نقل راویستل هم ضروری دی.

**یوسلو دری اویایمه ماده:**

هغه سندونه چه په محکمه کښی ښودل کیږی که مقابل لوری ئی خپل سند ونیسی او د سند ښودن وا ل هغه نه بیرته اخستلی شی او نه محکمی نه دا غوښتنه کولای شی چه دغه سند داسی وګڼی چه هډوله سره نه ؤ.

**یوسلو څلوراویایمه ماده:**

په تجارتی حسابونو او دفترونو باندی غور د محکمی د مجلس په مخکښی کیږی که چیری لیکلی سندونه او تجارتی دفترونه د محکمی د قضائی ونډ‌ نه بهروی نو په هغوی باندی د (قضائی نیابت) په لارهم غور کیدی شی.

**یوسلو پنځه اویایمه ماده:**

محکمه کولی شی چه که و غواړی د حسابونو غور په پوهانو باندی وکړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یوسلو شپږ او یایمه ماده:**

که چیری ښودل شوی سند په هغه چا پوری اړه نلری چه دده خلاف په هغه باندی تکیه شوی وی نو دغه سړی کولی شی چه رد ئی کړی خو په کار دی چه د سند ردول په هغه لومړی ځواب کښی چه د ښودل شوی سند په باب ورکول کیږی وشی.

**یوسلو اووه اویایمه ماده:**

د رد په مقابل کښی که د سند څښتن خپل سند د مقابل لوری په سلابیرته واخلی نو محکمه په دغه دعوی کښی چه غور کوی په دغه سند باندی تکیه نشی کولی، خو که د سند څښتن خپل سند بیرته وانخلی او سند په دعوی کښی تاثیر لری محکمه کولی شی چه ددغه سند له مخه غور وکړی.

**یوسلو اته اویایمه ماده:**

که چیری محکمه د تحقیقاتو په نتیجه کښی په منکرو پوری د سند په اړه لرلو فیصله وکړی نو منکر له زرنه تردوو زرو افغانیو پوری په نقدی جزا او همدغه شان که مقابل لوری ددعوی د ځنډیدو له کبله غوښتنه وکړی نو مقابل لوری ته د اووښتی تاوان په جبیره چه اندازه ئی محکمه ټاکی محکومیږی.

**یوسلو نهه اویایمه ماده:**

د دعوی د جریان په ټولو مرحلو کښی د سند د جعلیت ادعا کیدی شی که چیری د جعلیت ادعا د محاکمی د غونډی په وخت کښی وشی او ضروری ده چه کیفیت ئی د دعوو ضبطولو په کتاب وخیژی او د ادعا په خاوند امضا کړی شی.

**یوسلو اتیایمه ماده:**

د جعلیت ددعوه وال د ادعا صورت د هغه مقابل لوری ته ابلاغیږی. مقابل لوری په دی پړدی چه په لسو ورځو کښی یا خو داسی لیکلی ځواب ورکړی چه دغه سند بیرته اخلی او یا پری ودریږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سند په بیرته اخستلو کښی د مقابل لوری منښت شرط دی.

**یوسلو یواتیایمه ماده:**

تش د سند بیرته اخیستل د هغه د جعلیت دلیل نه دی.

**یوسلو دوه اتیایمه ماده:**

که چیری د سند ښودن وا ل ستهند بیرته واخلی او یا په ټاکلی نېټه ځواب ور نه کړی نو محکمه به د یو سل یو اویایمی مادی د حکم له پاملرنی سره دغه سند ددلیلونو له منځه وباسی او که چیری د سند ښودن وال پخپل سند باندی ټینګ ودریږی نو د محکمی منشی به په دری ورځو کی د سند د جعلیت دعوه وال ته خبر ورکوی چه تر لسو ورځو پوری هغه دلیلونه چه د سند د جعلیت په باب پری تکیه لری محکمی ته لیکلی وړاندی کړی.

**یوسلو دری اتیایمه ماده:**

که چیری محکمه د جعلیت د دلیلونو له رسیدونه پس د جعلیت په دعوی باندی غور په اصل دعوی کښی تاثیر ناک وګڼی د جعلیت په دعوی باندی د غور کولو حکم کوی.

دمحکمی منشی په دری ورځو کښی د محکمی دغه فیصله دواړو خواؤ ته اوروی او د جعلیت ددعوی دلیلونه د سند ښودن وا ل ته ارجاع کوی او هغه پدی پوهوی چه په لسو ورځو کښی خپل لیکلی ځواب محکمی ته وسپاری او ددغه ځواب د رسیدونه پس د جعلیت په دعوی باندی د غور نېټه دمنشی له پلوه دواړو خواؤ ته او رول کیږی.

**یوسلو ځلور اتیایمه ماده:**

په کار دی چه د سند ښودن وا ل هغه اصل سند چه د جعلیت دعوی پری شوی ده هماغه وخت چه پخپل سند باندی دو دریدو خبر محکمی ته ورکوی د رسید په بدل کښی د محکمی دفتر ته وسپاری

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغـه سـند د منشی پـه واسـطه د محکمـی پـه رئـیس اواعـضاو بانـدی ملاحظه او نښانی او په محکمه کښی خو ندی ساتل کیږی.

**یوسل پنځه اتیایمه ماده:**

که چیری د جعلیت دعوه وا ل په ټاکلی موده کښی د جعلیت دلیلونـه محکمـی تـه وړانـدی نـه کـړی د جعلیـت ادعـا بـی تـاثیره کیـږی او کـه چیـری د سـند ښـودن وا ل د مقابـل لـوری لـه خـوا د سـند دجعلیـت د دعوی په باب ځواب ونه وائی. نو د محکمی له خوا جعلیت پـه دعـوی باندی د غور دپاره نېټه ټاکل کیږی.

**یوسلو شپږ اتیامه ماده:**

محکمه د رسمی سندو نو د جعلیت په دعوی باندی د غـور پـه بـاب د یوسـل نهـه پنځوسـمی او یوسـل شـپیتمی مـادی حکمونـو تـه پاملرنـه ساتی، او د نورو سندونو د جعلیت په دعـوی بانـدی د غـور کولـو پـه باب ددی قانون له یو سل نهـه اتیـایمی څخـه واخلـه د یوسـل شـپږنوی یمی مـادو. تـر پایـه پـوری د حکمونـو پاملرنـه کـوی او پـه هغـه صـورت کښی چه د جعلیت دلیلونه مقنع و ګڼی د سـند پـه جعلیـت حکـم کـوی کنی هیڅ، که چیری د سند په جعلیت باندی خپله فیصله صادره کړی نو دغه سند ددلیلونو له منځه وباسی.

**یوسلو اووه اتیایمه ماده:**

که چیری محکمه د سند په جعلیـت حکـم ونـه کـړی نـو هغـه خـوا چـه د جعلیت دعوی ئی کړی ده د پنځوسـو و نـه واخلـه تـر دری زرو افغـانیو پوری په نقده جزا او همدغه شان د مقابل لوری پـه غوښـتنه دغـه تـه د ټول اوښتی تاوان په ورکړه چه محکمی ته ثابت شی محکومیږی.

**یوسلو اته اتیایمه ماده:**

د جعلیت ددعوی په باب د حکم صـادریدلو نـه پـس هغـه ټـول سـندونـه او لیکنـی چـه د جعلیـت ددعـوی لانـدی راغلـی ښـودن وا ل اویـا هغـه مرجع ته چه دغه سندونه تـری لاس تـه راوسـتل شـوی دی د یوسـل اووه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اتیا او یو سل نهه نوی مادو حکمونو لـه پاملرنی سره سم د رسید پـه بدل کښی بیرته ورکول کیږی.

**یوسلو نهه اتیایمه ماده:**

د تجـارتی محکمـو هـیڅ مـامور او کـاروالادا حق نلری چه پـه کومـو سندونو باندی چه د جعلیت دعوی شوی ده د هغو مثنی اشخاصو تـه ورکړی مگر هله چه د محکمی رئیس اجازه وکړی او پـه دغـه صـورت کـښی هـم د مثنـی پـه ځنـډه کـښی ځرگنـد ولیکـل شـی چـه پـدی سـند باندی د جعلیت دعوی شوی ده.

**یوسلو نوی یمه ماده:**

که چیری په یو سند باندی د جعلیت دعـوی پـه تجـارتی محکمـو کـی ثابتـه شـی نـو تـورن او د هغـه ملگـری د جزایـی تعقیبـاتو دپـاره خپلـو مراجعوته سپارل کیږی.

**یوسلو یونوی یمه ماده:**

د جعلیت د دعوی په موضـوع کـښی د یـو سـند د اعتبـار پـه پـدی ډول غور کیږی:

۱: په لیک امضا مهر او گوته باندی د وهلو، توږلو او د دغـی نـورو پـه ملاحظه کره کتنه.

۲: د لاتجـه ایـز سـندد لیـک او امـضا سـره د یـو بـل داسـی مماثـل سـند مخامخ کول چه د هغه په اصالت باندی د محکمی باور وی.

۳: دداسی خبرگر ندو او شاهدانو نه تحقیق کول چه دهغو د اطلاعـاتو او معلوماتو له مخه د سند صحیح او غلط معلومیدی شی.

۴: ددغه سند له مفاد سره د نورو هغو سندونو او دلیلونو تطبیق کـول چه د هغو په اصالت باندی د محکمی باور وی.

د نـورو سـندونو سـره د سـند د تطبیـق کولـو پـه بـاب داسـی سـندونه خوښول په کار دی چه مقابل لوری ئی منی او یـا ئـی صـحت محکمـی په نزد ثابت وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یوسلو دوه نوی یمه ماده:**
محکمه هغه شاهدان چه د شاهدی له مخی ئی په سند کښی امضا وی کړی وی یا هغه کسان چه دلیکلو په وخت کښی ئی د لانجه ایز سند لاس لیکیدل یامهریدل لیدلی وی او دغه شان هغه کسان چه د هغو اطلاعاتو او معلوماتو نه د حقیقت څرګندیدل ممکن وی را غواړی او خبری ئی اوریدل کیږی.

**یوسلو دری نوی یمه ماده:**
د سندونو د لیک امضا او مهر د تطبیق کولو په کار کښی هغه لیکنی اساس نیول کیږی چه دواړه خوا وی ئی په خوښولو کښی اتفاق وی او که د دواړو خواؤ اتفاق نه ؤ نو بیا دا لاندی لیکنی د تطبیق دپاره اساس نیول کیږی:
الف: په رسمی سندونو کښی لیک امضا مهر او ګوته.
ب: هغه لیک، امضا، مهر او یا ګوته چه په دعوی پوری په مربوطو پاڼو کښی د محکمی په وړاندی لیکل شوی، امضا شوی، مهر شوی او ګوته شوی وی.
ج: په مربوطو چارو پوری په متعلقو لیکنو کښی د رسمی کسانو او ملی مؤسساتو د کاروالاؤ لیک یا امضا.
د: هغه عادی سندونه چه د هغی د لیک، امضا، مهر او ګوتو په صحت باندی مخکښی اعتراف شوی وی.

**یو سل څلور نوی یمه ماده:**
که چیری هغه سړی چه د سند لیک، امضا، مهر او ګوته په ده پوری تړل شوی ژوندی وی د لیک د غوښتو دپاره راوستل کیږی.

**یوسلو پنځه نوی یمه ماده:**
که چیری هغه پاڼی او لیکنی چه د تطبیق دپاره اساس نیول کیږی په یوه دولتی اداره یا ملی مؤسسه کښی وی نوموړی اداره او مؤسسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مکلفه ده چه د محکمی په حکم ئی محکمی ته راولیږی نو د مطلب پوره کیدونه پس هماغه اداری ته د محکمی له خوالیږل کیږی.

**یوسلو شپږنوی یمه ماده:**
که چیری دغه پاڼی او لیکنی د محکمی د قضا ئی ونډ نه بهر وی او راوړل ئی ګران وی نو بیا د تطبیق کارد قضائی نیابت په لاره سرته رسیږی.

**یوسلو اووه نوی یمه ماده:**
که ضرورت پیښ شی محکمه د لیک، امضا، مهر او ګوتی کره کتنه ددی قانون له حکمونو سره سم پوهانو ته سپاری.

**یوسلو اته نوی یمه ماده:**
که چیری توړنی او دغسی نور په یو سند کښی موجود وی نو دا خبره ددغوو ضبطولو په کتاب خیژی او په ښودن وا ل امضا کیږی او که چیری د سند ښودن وا ل دامضا کولو نه ډډه وکړی نو دغه کیفیت ددعوو ضبطولو په کتاب کښی ثبتیږی او د سند په باب ددی قانون د حکمونو په باب ددی قانون دحکمونو سره سرم اجراآت کیږی.

**یوسلو نهه نوی یمه ماده:**
د یو سند د جعلیت په باب د محکمی د فیصلی د قطعی کیدو نه پس د محکمی د حکم لنډیز د سنده لاندی لیکل کیږی او دغه سند د محکمی د رئیس له پلوه په خاص مهر باطلیږی.

## نهم فصل
## اقرار

**دوه سومه ماده:**
کله چه یو څوک په یو داسی شی اقرار وکړی چه په ده باندی یو حق ثابتوی دده دا اقرار ددغه حق د ثبوت دپاره کافی ګڼل کیږی

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوه سوه یوومه ماده:**
که چیری اقرار د محکمی په وړاندی ددعوی د جریان په وخت کښی او یا د هغو پاڼونه په یوه کښی چه محکمی ته وړاندی کیږی وشی دا په محکمه کښی اقرار دی او اعتبار لری، او هغه اقرار چه محکمی نه بهر وشی اعتبار نلری مګر هله! چه واقعیت ئی ددی قانون له حکمونو سره سم ثابت شی.

**دوه سوه دوهمه ماده:**
په کار دی چه اقرار لکه د دعوی په باب د نورو اظهاراتو په شان د محکمی د منشی له خوا ددعوو ضبطولو په کتاب وخیژی او په مقر امضا شی.

**دوه سوه دریمه ماده:**
په یو داسی حالت باندی د وکیل اقرار چه دده په مؤکل باندی یو حق ثابتوی د مؤکل د خپل اقرار په شان ددی فصل د حکمونو سره سم اعتبار لری خو پدی شرط چه وکیل ته په وکالت لیک کښی دا واک ورکړی شوی وی.

## لسم فصل
## قضائی نیابت

**دوسوه څلورمه ماده:**
په هغو پیښو کښی چه دا ضروری وګڼله شی چه په دلیلنو باندی غور د شاهدانو اوریدنه، پوهانو ته رجوع کول او یا نور داسی قانونی اجراآت د هغی قضائی محکمی د وندڼه بهر وشی چه د اصل دعوی په کتنه مکلفه ده نو دا محکمه کولی شی چه په دغه باب یو بلی محکمی ته نیابت ورکړی چه تحقیقات او ضروری اجراآت وکاندی او صدق شوی شکل دی هغی محکمی ته چه نیابت ورکول راولیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوسوه پنځمه ماده:**
په هغو پیښو کښې چه دا ضروری وی چه تحقیقات د افغانستان نه بهر وشی محکمه کولی شی چه د افغانستان او بهرنو دولتونو ترمنځ د موجودو تړونونو په اساس او که دا نه وو د بین الدول حقوقی مقرراتو په اساس د هغه مملکت محکمی ته چه دغه تحقیقات ئی په خاوره کښې کیدل په کار دی نیابت ورکړی چه تحقیقات وکړی او یو کره شوی شکل ئی افغانی تجارتی محکمی ته راولیږی.

**دوه سوه شپږمه ماده:**
افغانی تجارتی محکمی کولی شی چه د افغانستان او بهرنیو دولتونو ترمنځ د موجودو تړونونو سره سم او که نه وو د بین الدول حقوقی مقرراتو په اساس هغه نیابت چه د بهرنیو ملکونو او د محکمو له پلوه د شاهدانو د اوریدنی یا تجارتی دعوی په باب د نورو تحقیقاتو د پاره ورکول کیږی ومنی.

**دوه سو اوومه ماده:**
د قضائی نیابت په اجراکولو کښې د غور لاری چاری د هغه ځای د قانون تابع دی چه تحقیقات پکښې کیږی

## یوولسم فصل
## حکمیت

**دوه سوه اتمه ماده:**
هغه کسان چه ددعوی سوررولو اهلیت نلری د خپلو اختلافونو د اوارولو دپاره که دغه اختلافونه په تجارتی محکمو کښې پور ته شوی وی که نه وی کولی شی چه محکمی د حکم صادریدو نه مخکښې د یویاځو تنو حکمیت ته مراجعه وکړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوسوه نهمه ماده:**
دواړه خوا وی کولی شی چه په اصل عقد یا په ځانګړی تړون کښی دا په غاړه و منی چه که اختلاف پیښ شو نو حکمیت ته مراجعه کوی.

**دوه سوه لسمه ماده:**
که په هغه ځانګړی تړون کښی چه دواړو خوا ؤ د هغه له مخه د خپلو اختلافونو او ارولو دپاره د حکمیت اساس منلی دی په کوم ټاکلی حکم یا حکمانو باندی روغه جوړه راغلی وی نو بیا په دغه باب ددی ټکو مراعاتو ضروری دی:
الف: په څرګند صورت ددواړو خواؤ حکم او حکمانو د هویت او مشخصاتو بیان.
ب: د هغی لانجه ایزی موضوع بیان چه د حکمیت له لاری ئی اوارول په کار دی.

**دوه سوه یوولسمه ماده:**
که چیری دواړوو خوا ؤ په اصل عقد یا په ځانګړی تړون کښی خپل حکم یا حکمان مخکښی نه وی ټاکلی دوی کولی شی چه بیا وروسته د دواړوو خواو و په اتفاق دا کار وکاندی او هر کله که د دواړوو خواوو ترمنځ د حکم په ټاکلو اتفاق را نشی نو بیا د حکم ټاکل د محکمی کار دی.

**دوه سوه دوولسمه ماده:**
که چیری داسی وی چه د اصل عقد یا ځانګړی تړون له مخه په کار وی چه له یوه نه زیات حکمان وټاکل شی خو نه ئی شمیر معلوم وی او نه نومونه نو دواړه خوا وی به یویو حکم نیسی او دواړه حکمان به یو درېیمګړی حکم خوښوی، که چیری دغه دواړه حکمان په یوه هفته کښی د دریمګړی حکم په ودرولو بریالی نشی نو محکمه به دریمګړی حکم ټاکی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوه سوه دیارلسمه ماده:**

په لاندی پیښو کښی هم حکم د مربوطی محکمی له خوا ټاکل کیږی:

الف: په هغه صورت کښی چه د دواړوو خوا ؤ ترمنځ د اختلافونو اوارولو کار د تړون له مخه یوه حکم ته راجع شوی وی خو دواړه خوا وی په یوه حکم باندی اتفاق ونه کړی شی.

ب: که چیری د یوی خوا حکم یا استعفا وکړی یا ومری او یا د حکمیت اهلیت له لاسه ورکړی او د هغه خوا دا ونه کړی شی چه د حکم د استعفا یا مړینی له نیټی نه لس ورځی وروسته د هغه عوض وټاکی.

ج: په ټولو هغو پیښو کښی چه دواړه خوا وی د اصل عقد یا ځانګړی قرارداد یا ددی قانون د حکمونو له مخه د حکمانو په ټاکلو مکلف وی او یوه خوا ئی د خپل مقابل لوری له خوا د حکم په ټاکلو باندی د خبریدونه لس ورځی پس خپل حکم ونه ټاکلی شی.

**دوه سوه څوار لسمه ماده:**

په هغو پیښو کښی چه محکمه ددی قانون له حکمونو سره سم حکم خوښوی په کار دی چه محکمی ته د څومره شمیر ضرورت وی چه د هغه نه په دوه هومره شمیر کسانو کښی د پچی له مخه حکم یا حکمان وټاکی.

**دوه سوه پنځلسمه ماده:**

حکم یا حکمان پدی پړه دی چه په اصل عقد یا ځانګړی تړون کښی څومره موده چې ښودلی شوی وی په هغی کښی د ننه د ننه خپله فیصله صادره کړی او که په اصل عقد یا ځانګړی تړون کښی د مودی یادونه شوی نه وی نو حکم یا حکمان پدی پړه دی چه د هغی نیټی نه وروسته چه ټولو حکمانو د حکمیت د منلو لیکلی خبر ورکړی وی په دوه میاشتو کښی خپله فیصله صادره کاندی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوه سوه شپاړسمه ماده:**

محکمه دا کسان د حکم په حیث تاکلی نه شی مگر هله ئی تاکلی شی چه دواړه خوا وی پری سلا شی:

الف: هغه څوک چه په دعوی کښی ښیگړوال وی.

ب: هغه څوک چه به دعوه والو کښی له یوه سره د لومړی درجی نسبی یا سببی نژدیکت لری.

ج: هغه څوک چه د یوی خوا وکیل یا دهغه په چارو بوخت وی او یا دعوی یو خوا د ده په چارو اخته وی.

د: هغه څوک چه د یو دعوه وال میراث خوری.

هـ: د دری گونو تجارتی محکمو رئیسانو او غړی او د هغوی په ونډه کښی د دولت مامورین.

**دوه سوه اووه لسمه ماده:**

هغه حکم چه محکمه ئی ددی قانون د دوه سوه دیارلسمی مادی د دوهمی او دریمی فقری سره سم ټاکی د دوه سوه شپاړسمی مادی له حکمه مستثنی دی.

**دوه سوه اتلسمه ماده:**

حکمان د حکمیت منلونه وروسته د استعفا حق نه لری مگر هله چه معقول عذر ولری لکه سفر ناروغی او داسی نور.

**دوه سوه نولسمه ماده:**

که چیری حکمان په ټاکلی نېټه خپله رایه ورنه کړی د دوی د حکمیت واک پای ته رسیږی او د دواړو خواو د سلا کیدو په صورت کښی نوی حکمان خوښول کیږی.

**دوه سوه شلمه ماده:**

په کار دی چه دواړه خوا وی هغه سندونه او مدارک چه لری ئی، حکمانوته ورکړی او حکمان هم کولی شی چه له دوی نه ضروری پوښتنی گرویږنی وکاندی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوه سوه یویشتمه ماده:**

که چیری دواړه خوا وی د حکمیت د لری کیدو دپاره لیکلی غوښتنه وکړی نو حکمیت له منځه ځی.

**دوه سوه دوه ویشتمه ماده:**

که د دعوی د دوه طرفونو نه یو مړشی د هغه قانونی وارثان ددغه مړی د حکم په ځای بل حکم ودرولی شی.

**دوه سوه درویشتمه ماده:**

په کار دی چه د حکم رایه غوڅه پریکړی او مدلله وی.

**دوه سوه څلیرویشتمه ماده:**

که حکمان ډیر وی نو رایه ئی د رایو د اکثریت له مخه اتخاذ کیږی.

**دوه سوه پنځویشتمه ماده:**

د حکمیت د رایی له حاصلیدو وروسته د محکمی منشی اصل رایه د محکمی د رئیس او غړو له ملاحظی تیروی او بیایی ددغو د ضبطولو په کتاب کښی ثبتوی که چیری د محکمی ډاډ په دی خبره راشی چه د حکمیت رایه ددی قانون په احکامو برابره صادره شوی ده نو هغه تر بحث لاندی اختلافونو داوارولوپه باب قاطمه ګڼی او د هغی په اساس خپله فیصله صادروی، وروسی فیصله لیکونه دواړو خوا ؤته سپارل کیږی او اصل رایه د محکمی په دفتر کښی ساتل کیږی.

**دوه سوه شپږ ویشتمه ماده:**

په دی لاندی پیښو کښی د حکمیت رایه اعتبار نه لری:

الف: چه د حکمیت رایه د مملکتی قوانینو نه مخالفه وی.

ب: چه حکم د حکمیت موضوع پریښی او د داسی مطلب په باب ئی خپله رایه ښکنده کړی وی چه د حکمیت موضوع نه وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ج: چه د حکمیت رایه د حکمیت له مودی تیریدلو وروسته صادره شوی وی.
د: چه د حکمیت رایه د هغه رسمی سندونو له محتویاتو سره مخالفه وی چه د تجارتی محکمی په دفتر ختلی وی.

**دوه سوه اووه ویشتمه ماده:**

که چیری د حکمیت په رایه کښی هم د حکمیت موضوع او هم پکښی داسی بل مطلب وی چه له دغی موضوع نه بهر وی نو له موضوع نه د بهرنی مطلب په باب د حکمیت رایه اعتبار نه لری.

**دوه سوه اته ویشتمه ماده:**

د حکمانو حق الزحمه نیم په نیمه د هری خوا په غاړه ده، خو هله نه، چه که د حکمیت په تړون کښی د حق الزحمی ورکولو دپاره بل ترتیب نیول شوی وی.

**دوه سوه نهه ویشتمه ماده:**

هغه دعوی چه د افلاس او دیواله کیدو په باب وی حکمیت ته نه شی راجع کیدی.

**دوه سوه دیرشمه ماده:**

د حکمیت په رایه او نظریه کښی په کار دی چه ددی ټکو خیال وساتل شی.
الف: د لایحه ایزی موضوع څرګندتیا.
ب: ددعوی د بنیاد او د محکمی د هر قسم لګښت او محصول په باب د حکم غوټه پریکړی رایه.
ج: د حکمیت نېټه او د ټاکلو حکمانو امضا وی او د هغوی د پتو څرګندونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دولسم فصل
## په دليلونو غور او د تحقيقاتو ختم

**دوه سوه يو د پرشمه ماده:**
ثابتول د هغه چا وظيفه ده چه د يو حق يا يو حالت دعوی کوی.

**دوه سوه دوه د پرشمه ماده:**
اثابت په هغه دليلونو کيږی چه په دی قانون کښی ياد شوی دی ددی قانون د نورو حکمونو له پاملرنی سره د اثبات په باب دليلونه په دی ترتيب غوره کيږی:
الف: اقرار.
ب: سند.
ج: شاهدی.

**دوه سوه دری د پرشمه ماده:**
د يوی دعوی د ثبوت دپاره په بريدونو کښی د ننه په تجارتی رواج او چال چلند باندی تکيه کولی شی.

**دوه سوه څلورد پرشمه ماده:**
محکمه يواځی په هغه دليلونو غور کوی چه ددعوی دواړو خواؤ پيش کړی وی او دا نه شی کولی چه يوی خواته کوم ښودلی دليل د وړاندی کولو دپاره تلقين کړی وی هغه تحقيقات چه محکمه ئی د محاکمی د جريان په وخت کښی د موضوع د څرګندتيا دپاره ضروری و ګڼی لکه د شاهدانو اوريدنه او نور د دليل تلقين نه ګڼل کيږی.

**دوه سوه پنځه د پرشمه ماده:**
په دليلونو باندی غور د محکمی په غونډه کښی کيږی که چيری د غور په وخت کښی د موضوع د تحقيق او تشخيص دپاره د دواړو خواؤ يا ديوی خوا يا د نورو کسانو راغوښتل ضروری وګڼل شی محکمی ته راغوښتل کيږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوه سوه شپږ د پرشمه ماده:**

هغه ټول سندونه چه دواړه خوا وی ئی محکمی ته ښیی د محکمی له خوا له کتل کیدو نه پس ددعوو ضبطولو په کتاب کښی ثبتیږی او اصل ئی د رسید په بدل کښی بیرته خاوندانوته ورکول کیږی.

**دوه سوه اووه د پرشمه ماده:**

د دلیلونو د اوریدنی او وربانـدی د غـور کولـو نـه وروسـته محکمـه دواړو خـوا ؤ تـه د تحقیقـاتو ختمیـدل اوروی بیـا د حکـم اورولودپـاره ورځ او ساعت ټاکی، کدا خبر ددعوو ضبطولو پـه کتـاب خیژوی او دعوه والوته ئی اور وی.

**دوه سوه اته د پرشمه ماده:**

په کار دی چه محکمه د تحقیقاتو د ختم لـه اعلامـه و روسـته پـه شلو ورځـو کـښی د ننـه خپـل حکـم صـادر کـړی او فیـصله لیکونـه دواړو خواؤته وسپاری.

**دوه سوه نهه د پرشمه ماده:**

په کار دی چه د محکمی په حکم کښی دا لاندی ټکی درج وی:

الـف: ددعـوی د دواړو خـواؤ او دهغـوی د وکیلانـو نومونـه او پـوره پیژندنه.

ب: د حکم نېټه.

ج: د هغی محکمی نوم چه حکم صادروی.

د: د حکم لاندی د محکمی د رئیس او غړو نومونه.

هـ: لکه محکمی نه ددعوه والو دغوښتنی او دعوی موضوع.

و: ددعوی د دواړو خواؤ ددلیلونو او مستنداتو لنډیز.

ز: هغه دلیلونه چه محکمه پری د حکم په صادرولو کښی تکیه کوی.

ح: ددی خبـری څرګنـدتیا چـه د محکمـی دصـکوکو محـصول او نـور لګښتونه د چا په غاړه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوه سوه څلوېښتمه ماده:**

په کار دی چه د محکمی حکم څرګند او غوڅ پریکړی وی.

**دوه سوه یوڅلویښته ماده:**

د محکمی رایه پټ په پټه نیول کیږی او د قضائی ډلی د امضا نه پس د حکم شکل غوره کوی او په ښکاره دواړو خوا ؤ ته اورول کیږی.

**دوه سوه دوه څلوېښتمه ماده:**

د محکمی رایه د اتفاق یا اکثریت په اساس نیول کیږی د حکمی رئیس لومړی له غړونه بیل بیل رایه اخلی او ټولو نه وروسته خپله رایه څرګندوی.

**دوه سوه دری څلوېښتمه ماده:**

د محکمی رئیس هم یوه رأیه لری.

**دوه سوه څلور څلوېښتمه ماده:**

په کار دی چه د محکمی حکم ددعوو ضبطولو د کتاب دجریاناتو سره یو ځای د حکم اورولو نه په شلو ورځو کښی د ننه د محکمی د منشی له پلوه ددعوی دواړو خوا ؤ په شمیر په رسمی فیصله لیکو نو کښی درج شی او د محکمی د رئیس او غړو له امضا او د ټاکلی محصول د اخستلو نه پس د داسی رسید په بدل کښی چه تاریخ پری وهل شوی وی دعوه والوته وسپارل شی.

**دوه سوه پنځه څلوېښتمه ماده:**

د فیصله لیکونو او رول او سپارل د هغو قاعدو سره سم کیږی چه ددی قانون د اورونی په فصل کښی ټاکل شوی دی.

**دوه سوه شپږ څلویښتمه ماده:**

که چیری د دعوی یوه خوا یا وکیل یی د کوم معقول عذر نه د محکمو ټاکلو غونډوته را نه شی او یا راشی خو د محکمی د پوښتنو جواب ونه وایی نو که دهغوی د اعتراضونو او دفعو صورت ددعوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ضبطولو په کتاب کښي رسول شوي وي که نه وي محکمه د مقابل لوري په غوښتنه د غايب د حاضرولو دپاره يوه موده چه له دوو مياشتونه به کمه او له څلورو مياشتو به زياته نه وي ټاکلي او په را ديو او يو محلي اخبار کښي ئې خپروي، که چيري غايب شخص په دغه ټاکلي موده کښي محکمي ته ځان ونه رساوه محکمه واک لري چه د مقابل لوري د ښودلو سندونو او قانوني موادو په تکيه خپل حکم د هغه پس صادر کړي.

## دريم باب
## دمرافعي غوښتني مرحله

## لومړی فصل
## هغه حکمونه او فيصلي چه مرافعه پري غوښتل کيدی شي

**دوسوه اووه څلويښتمه ماده:**
د تجارتي ابتدائيه محکمو نه په صادر شوو حکمونو عموما مرافعه غوښتل کېدی شي بي له هغو حکمونو چه استثنايي په قانون کښي څرګنده ښودل شوي وي.

**دوه سوه اته څلويښتمه ماده:**
د تجارتي ابتدائيه محکمو په دی لاندی حکمونو بآندی مرافعه نه شي غوښتل کيدی:
الف: د ابتدايي تجارتي محکمو هغه حکمونه چه يوازی په پيسوشوي او له دوو زرو افغانيو کمي وي.
ب: هغه حکمونه چه د محکمي په مخکښي په اقرار باندی تکيه شوي وي.
ج: هغه حکمونه چه د دی قانون سره سم د حکميت يادروغي جوړی د نظريي په اساس صادر شوي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوه سوه نه څلوېښتمه ماده:**
په اصل موضوع باندی په هیڅ یوه فیصله بی له حکمه مرافعه نه شی غوښتل کیدی، دا لاندنی صورتونه مستثنا دی:
الف: د دعوی د نه اوریدلو فیصله د محکمی د صلاحیت د نه لرلو یادوخت تیریدو په اساس.
ب: د دعوی د یوی خوا داهلیت نه لرلو فیصله.
ج: د محکمی دیو غړی د رد غوښتنی د نه منلو فیصله.

**دوه سوه پنځوسمه ماده:**
څوک چه مرافعه غواړی په دی پړدی چه مرافعی محکمی ته د خپل غوښتن لیک سره یو ځای د ابتدائیی محکمی د فیصله لیک یا حکم اصل یائی مثنا وړاندی کړی.

## دو هم فصل
## د مرافعی غوښتلو موده

**دوه سوه یو پنځوسمه ماده:**
د ابتدایی محکمو په حکمونو او فیصلو باندی د مرافعی غوښتلو موده د حکم داورولو او یافیصله کیدلو له نېټې څخه دوه میاشتی ده.

**دوه سوه دوه پنځوسمه ماده:**
هغه کسان چه د حکم داورولو او تفهیم په وخت په محکمه کښی حاضروی نو داورو لو او تفهیم کار د دعو وضبطولو په کتاب کښی کیدی او له دوی نه استحضاری اخستله کیږی د هغوی په باب چه داورولو په وخت په محکمه کښی حاضر نه وی د اورولو کار د دی قانون داووه اتیا ، اته اتیا او نه اتیا مادو د حکمونو سره سم کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوه سوه دری پنځوسمه ماده:**

که چیری په دوه سو یوپنځوسمه ماده کښې د ښودل شوی مودی د تیر یدو نه پس د مرافعې غوښتنه شوی وی او مرافعه محکمه د غوښتنې نه منلو او د دعوی اد نه اوریدلو حکم صادره وی.

## دریم فصل
## مرافعوی غور

**دوه سوه ځلور پنځوسمه ماده:**

مرافعوی غور په غوښتنه کیږی دا غوښتنه په مدعی یا مدعی علیه د دوی وکیلان یا قانونی نمایندګان په کابل کښې پخپله تجارتی مرافعه محکمې ته وړاندی کوی.

**دوه سوه پنځه پنځوسمه ماده:**

په کار دی چه د مرافعه محکمې منشی د غوښتنې درسیدو سره سم د غوښتنې محتویات پخپل دفتر کښې ورسوی او غوښتنوال ته داسی رسید ورکړی چه پکښې د ده نوم، د مقابل لوری نوم او د غوښتن لیک د رسیدو نېټه وی او په هغو ټولو پاڼو باندی چه د غوښتن لیک سره اړه لری د اخستلو نېټه ولیکی دانېټه د مرافعې غوښتنې ابتدا ګڼله کیږی.

**دوه سوه شپږپنځوسمه ماده:**

په کاردی چه د مرافعه غوښتنې په لیک کښې داټکی قیدشی:

الف: د مرافعې د غوښتنوال نوم مکمل شهرت او پته ئی.

ب: د مقابل لوری نوم، مکمل شهرت او پته ئی.

ج: که دو اړه خواوی یا یوه یې وکیل لری نو د وکیل نوم مکمل شهرت او پته ئی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د: د هغه حکم یا قرار لنډیز چه په هغه باندی مرافعه غوښتل شوی وی.
هـ: د ابتدائیه محکمی د هغه حکم یا قرار نېټه چه مرافعه پری غوښتل شوی وی.
و:د هغی ابتدائیه محکمی نوم چه حکم یا اقرار ئی صادر کړی وی.
ز: د مرافعی غوښتنی د ادعا شرح او ورسره د مدعا د اندازی او نورو مشخصاتو څرګندتیا.
ح: د ابتدائیه محکمی په فیصله باندی مرافعوی اعتراضونه.

**دوه سوه اووه پنځوسمه ماده:**

په کار دی چه د الاندی پاڼی د مرافعی د غوښتن لیک سره یو ځای مرافعه محکمی ته وړاندی شی:
الـف: د وکیل وکالـت لیـک کـه د مرافعـی غوښـتنوال وکیـل لری.
ب: د هغو سندونو نقل چه د مرافعی غوښتنوال پری تکیه کوی.
ج: د ابتدائیـه محکمـی د هغـه حکـم یـا قـرار اصـل یـا مثنـی چـه پـری مرافعه غوښتل شوی وی.

**دوه سوه اته پنځوسمه ماده:**

د مرافعی غوښتنی غوښتن لیک او ورسره ضمیمه پاڼی لـه رسیدو نـه پس په خپل وارد مرافعه محکمی مجلس ته وړاندی کیږی. که چیری د محکمی مجلس دعوی داوریدو وړونه ګڼله نو په نه اوریدو ئی حکم کوی او که د عوی ئی داوریدوړو بلله نو غوښتن لیک ور سره ضمیمه پا ڼی د مدعی یا د هغه د وکیل له پلوه د محکمـی د منشی د څارنی لاندی د دعـوو د ضـبطو لویـه کتـاب کـښی رسـیږی او تـرې لانـدې د مدعی یا د هغه د وکیل امضا مهر یا ګوته لګول کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوه سوه نهه پنځوسمه ماده:**
په کتاب کښې د غوښتن لیک او ورسره پاڼو دختو نه پس د دعو و ضبطولو د کتاب محتویات د دفعې دپاره مقابل لوری ته ښودل کیږی چه د محکمې د ننه پری منشی په مخکښې ځان پوه کړی او جوابونه تیار کاندی مقابل لوری د غوښتن لیک او دوه د سره پاڼو نقل په دی ماده کښې د راغلو شرطونو سره سم د دعوی ضبطو لو له کتابه اخستې شي.

**دوه سوه شپیتمه ماده:**
مقابل لوری یایی وکیل په دی مکلف دی چه د دعوو ضبطولو په کتاب کښې دغوښتنی لیک اوورسره پاڼودلیدلو نه لس ورځې وروسته د مدعی د اعتراضونو د دفعې د محکمې د منشی د څارنی لاندی دردعوو ضبطولو په کتاب کښې ورسوی او ترلاندی امضاو کړی یا مهر او یا ګوته ولګوی.

**دوه سوه یوشپیتمه ماده:**
د دعوو ضبطولو په کتاب کښې د اعتراضونو د فعو او ددواړو خواو د موجودوسندونو د ختلونه پس د محکمې له خوا په کشاله باندی دغورکولو ورځ او ساعت ټاکل کیږی دعوه والوته او رول کیږی او له دوی استحضاری اخستله کیږی چه په ټاکلی ورځ او ساعت د محاکمې غونډی ته ځان راو رسوی.

**دوه سوه دوه شپیتمه ماده:**
هغه نوی دغوی چه په ابتدائیه کښې نه وی د مرافعې په دوران کښې نه اوریدله کیږی، د بدل اجاری، کراِئی او هغه تاوان د عوی چه د مرافعې غوښتنوال ته دغور په وخت یادابتدائیه محکمې د حکم له صادر یدو وروسته اوښتی وی نوی دعوا نه ګڼله کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوه سوه دری شپیتمه ماده:**

ټولی هغه محاکماتی قاعدی چه د دی قانون د حکمونو له مخه په ابتدایی تجارتی محکمو کښی جاری دی په مرافعه محکمو کښی ئی هم خیال ساتل کیږی، خو په هغو ځایونو کښی چه د قانون له پلوه د هغو په باب ځرګند خاص مکلفیت ټاکل شوی وی.

**دوه سوه څلورشپیتمه ماده:**

که چیری مرافعه محکمه دغور په نتیجه کښی د ابتدائیه محکمی حکم د قانون په حکمونو برابر و مومی نو دهغه تایید کوی دغه حکم ماتوی او په خپله په دغه موضوع کښی نوی حکم صادر وی د غور په باب د مرافعه محکمی په صلاحیت کښی هغه حالات هم شامل دی چه مربوطی ابتدائیه محکمی په خپل حکم کښی دواړو خواوو د دعوی د یوی برخی په باب هیڅ نه وی ویلی او یادا چه د مرافعوی غور په جریان کښی د دعوه والوله خوا د ثبوت نوی وسیلی مرافعه محکمی ته وړاندی شی.

**دوه سوه پنځه شپیتمه ماده:**

که چیری مرافعه محکمه د مرافعوی غور په وخت د ابتدائیه محکمی په فیصله کښی د حسابی سهوې یا به اعدادو کښی د تیرو تنې یا له قلمه د ځینو داسی ارقامو او قلمونو له پاتی کیدو پر ته چه د حکم لاندی راځی او اثبات ئی شوی وی کوم بل داسی نقض و نه مومی چه د حکم د ماتیدو سبب کیږی نو دغه حکم سهوی او دهغه په تایید فیصله صادروی.

**دوه سوه شپږ شپیتمه ماده:**

د غور د ختمیدو نه پس چه ددی باب له حکمه سره سم کیږی که چیری لانجه ایزه موضوع د فیصلی صادرولو د پاره تیاره او سپینه وه او د دعواه والونه د نورو پوښتنو اووضاحت غوښتنو ضرورت نه ؤ نو مرافعه محکمه د تحقیقاتو ختم او روی، د حکم او رولو دپاره ورځ او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساعت ټاکی، موضوع د دعوو د ضبطولو په کتاب رسوی او دغوه وال خبروی چه په ټاکلی وخت محکمی ته ځان ورسوی. په کاردی چه د تحقیقاتو د سرته رسیدونه پس په لسوور ځوکښی حکم و اورولی شی.

**دوه سوه اووه شپیتمه ماده:**

د مرافعه محکمی درائی په تکل د حکم یا قرار په اورولو کښی د دی قانون ددوه سوه نهه د پرشمی او دوه سو پتځه ځلوېښتمی مادی د حکمونو پاملرنه کیږی.

## ځلورم باب
## تمیز غوښتنه

### لومړی فصل
### هغه حکمونه او قرارونه چه تمیز پری غوښتل کیدی شی

**دوه سوه اته شپیتمه ماده:**

هغه حکمونه چه د مرافعه محکمی له پلوه صادریږی تمیز پری غوښتل کیدی شی خو په هغو حالاتو کښی نه: چه دغه قانون ئی استثنا ځرګنده کړی وی.

**دوه سوه نهه شپیتمه ماده:**

پدی لاندی حکمونو تمیز نه شی غوښتل کدی:

الف: د مرافعه محکمی هغه حکمونه چه یوائی په پیسوشوی وی او له ځلورو زرو افغانیو کم وی.

ب: د مرافعه محکمی ټول هغه حکمونو چه د محکمی په مخکښی د شوی اقرار په اساس شوی وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ج: هغه حکمونه چه د یوه یا ځوتنو مصلحو یا حکمانو په را یه تکیه لری او دغه را یه ددی قانون د اصلاح او حکمیت دبر خو د حکمونو سره سم قاطعاً و ګڼله شی.

**دوه سوه اویایمه ماده:**

هیڅ قرار په یواځنی ډول د تمیز غوښتنی وړه نه دی مګر هغه چه دې قانون په ښکاره مجاز کړی وی.

**دوه سوه یو اویایمه ماده:**

دا لاندینی قرارونه په ځانګړی صورت د تمیز غوښتنی وړدی:

الف: هغه قرار چه مرافعه محکمه ای د دعوی په غور باندی د خپلی نا صلاحیتی په باب صادروی.

ب: هغه قرا چه مرافعه محکمه ئی دیودعو، والل په نااهلیتی باندی صادروی.

ج: هغه قرار چه مرافعه محکمه ئی د دعوی د رد او نه اوریدنی په باب صادروی.

د: هغه قرا چه مرافعه محکمه ئی د یو غړی دردله پاره د یو اعتراض د نه منلو په باب صادروی.

**دوه سوه دوه اویایمه ماده:**

د تمیز غوښتنوال پدی پړدی چه د تمیز د غوښتن لیک سره یو ځای د تجارتی د ابتدائیه او مرافعه د حکمو اصل فیصله لیکونه یا قرارونه او یا ئی مثنی د تمیز محکمی ته وړاندی کړی.

**دوه سوه دری اویایمه ماده:**

د تمیز غوښتنوال د تمیز په محکمه کښی نوی سندونه نشی ښودی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوهم فصل
## د تمیز غوښتنې موده

**دوه سوه ځلور اویایمه ماده:**
د تجارتي مرافعه محکمې په فیصلو یا قرارونو باندې د تمیز غوښتنو موده د حکم اورولو له نېټې څخه یوه میاشت ده چه ددغه مودې له تیریدو وروسته د تمیز غوښتنه په هیڅ صورت نشي اوریدل کیدی.

**دوه سوه پنځه اویایمه ماده:**
د اورولو په باب ددې قانون د دوه سوه درې پنځوسمې مادې حکم جاري کیږي.

**دوه سوه شپږ اویایمه ماده:**
د تمیز غوښتنې او پرې د غور کولو په باب ددې قانون د دوه سوه ځلور پنځوسمې او د دوه سوه نهه پنځوسمې مادې څو پورې چه ددې باب د حکمونو سره نقیض نه وي جاري کیږي.

## دریم فصل
## په تمیز کښې غور

**دوه سوه اووه اویایمه ماده:**
د تمیز تجارتي محکمه چه ددعوې د دواړو خواوو راوستل ضروري وګڼي هغوي راغواړي او که نه د هغوي ته غیر په موضوع باندې غور کوي.

**دوه سوه اته اویایمه ماده:**
که ددعوې دواړه خواؤې را غوښتل شوي وي نو د تمیز محکمه له هغوي ته ضروري پوښتنې کوي، د محکمې پوښتنې او د دواړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خواوو ځوابونه چه تش يو ځل کيږی ددعوو ضبطولو په کتاب کښی رسوی او په ځواب ګر باندی امضا کيږی.

**دوه سوه نهه اويايمه ماده:**

د غور ترتيب، د محکمی د تحقيقاتو د ختم اورونه دارائی نيول د حکم اورول او د فيصله ليکونو ورکول د تميز په محکمه کښی په هغه طريقه کيږی چه ددی قانون د حکمونو سره سم ابتدائيه او مرافعه تجارتی محکمو کښی ټاکلی ده.

**دوه سوه اتيايمه ماده:**

د تميز د غور نه مطلب ددی خبری څرګندول دی چه د ابتدائيه او مرافعه محکمو هغه حکمونه چه تميز پری غوښتل شوی دی د قانونی موادو سره موافق دی که نه:

که چيری د ابتدائيه او مرافعه محکمو حکمونه او قرارونه يو د بل په تائيد د قانون سره سم شوی وو نو د تميز محکمه ئی تائيد وی. خو که چيری ددغو دواړو محکمو حکمونه پخپلو کښی متناقض ؤ نو د تميز محکمه هماغه حکم تائيدوی چه د قانون مواد و سره سم شوی وی اوخبره خلاصيږی

**دوه سوه يو اتيايمه ماده:**

په دی لاندی صورتونو کښی د تميز محکمه د مرافعی حکم يا قرار ماتوی او د صحيح کولو امر ئی ورکوی:

الف: که حکم يا قرار د هغو قوانينو په خلاف شوی وی چه تجارتی محکمه ئی په چلولو مکلف دی.

ب: که مرافعه محکمی د دواړو خواوو ترمنځ د شوی تړون د مادو غلط تفسير کړی وی.

ج: که د مرافعی د خپلو حکمونو يا قرارونو منځکښی تضا دوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د: كه هغه دليلونه چه يوى خوا د خپلي دعوى د ثبوت دپاره وړاندى كړي بى له قانوني سببونو رد شوى وى.

**دوه سوه دوه اتيايمه ماده:**

هره هغه فيصله يا قرار چه د تميز له تجارتي محكمي څخه صادريږى قطعي ده.

**دوه سوه درى اتيايمه ماده:**

په دوه سوه يو اتيايمه ماده كښي د يادو شويو صورتونو له مخه هغه حكم يا قرار چه تميز پرى غوښتل شوى وى ماتيږى كه څه هم د تميز غوښتنوال په هغه سبب باندى چه د دوه سوه يو اتيايمي مادى له مخه نقض موجب دى تكيه نه وى كړي.

**دوه سوه څلور اتيايمه ماده:**

كه چيرى د تميز تجارتي محكمه د هغو علتونو له كبله چه په اوه سو و اتيايمه ماده كښي راغلى دى يو حكم يا قرار مات كاندى نو دعوى له نوى سره د غور او د حكم يا د قرار صحيح كولو دپاره مرافعه محكمي ته ليږى او مرافعه محكمه په دغه موضوع باندى غور كوى كه چيرى ورته د تميز د محكمي اعتراضو نه په ځاى ښكاره شول نونوى فيصله كوى چه د اصول له مخي په دغه فيصله باندى هم د تميز غوښتنه كيدى شي خو كه چيرى مرافعه محكمه د خپل پخوانى حكم يا قرار په صحت باندى ټينگه ودريږى نو د تميز د محكمي اعتراضونه په دليلونو د دوى او تميز محكمه بيا په موضوع باندى غور كوى د لانجه ايزى دعوى د ماهيت په باب په خپله حكم صادروى.

**دوه سوه پنځه اتيايمه ماده:**

كه چيرى د تميز محكمه په يوه دعوى د غور دپاره ديوى محكمي د صلاحيت په باب حكم وكړي نو دعوى د غور دپاره دغي محكمي ته ورليږى.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پنځم باب
## د فیصله لیکونو محصول، د وثیقو بیه او د تجارتی محکمو لګښت

## لومړی فصل
## د فیصله لیکونو محصول

**دوه سوه شپږ اتیایمه ماده:**
د تجارتی محکمو د فیصله لیکونو محصول د محکوم به د قیمت له مخه په دی شان اخستل کیږی:
الف: په هغه فیصله لیکونو کښی چه ابتدائی تجارتی محکمه ئی صادروی د محکوم علیه نه د محکوم به اته په سلو کښی د فیصلی د محصول په نامه اخستل کیږی.
ب: په هغه فیصله لیکونو کښی چه تجارتی مرافعه محکمه ئی صادر وی د محکوم علیه نه د محکوم په شپاړس په سلو کښی د محصول په نامه اخستل کیږی.
ج: په هغو فیصله لیکونو کښی چه د تمیز تجارتی محکمه ئی صادر وی د محکوم علیه نه د محکوم به دوه ویشت په سلو کښی د فیصلی د محصول په نامه اخستل کیږی.

**دوه سوه اووه اتیامه ماده:**
که چیری په ابتدائیه محکمو کښی د مدعی دعوی له مبلغه زیاته وی او په محکمو کښی ئی یوه برخه ثابته شی نو په ثابت شوی مبلغ کښی د دوه سوه شپږاتیایمی مادی لومړی فقری سره سم د محکوم علیه نه د فیصلی محصول اخستل کیږی او د مدعی نه چه محکوم علیه نه دی د پاتی هغه مبلغ چه دده په اصلی دعوی کښی ؤ او ثابت ته شو په سلو کښی یو د عدم اثابت د محصول په نامه اخستل او که چیری مدعی د خپل دعوی ئی مبلغ هیڅ یوه برخه هم ثابت نه کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



شو، نو لدې نه د ټول مدعا به یو په سلو کښی د عدم اثبات دمحصول په نامه اخستل کیږی.

**دوه سوه اته اتیایمه ماده:**

که د ابتدائی تجارتی محکمی فیصله له یوی مخی په مرافعه محکمه کښی تائید شی نو د وثیقی له قیمت او د پنځوسو افغانیو د صکوکو د هغه ټکټ نه پرته چه ددعوی سورولو په وخت کښی اخستل کیږی نور محصول نشته که مرافعه محکمه د ابتدائیه محکمی د فیصلی د محکوم له مبلغ یوه برخه واړوی نو د هغه مبلغ نه بیا محصول نه اخستل کیږی چه د مرافعه محکمی په حکم کښی تائید شو دی خو د هغی برخی نه یا چه د مرافعی محکمی په حکم کښی لغو شوی دی د عدم اثبات د محصول په نامه د ابتدائیه محکمی د محکوم له نه په سلو کښی یو اخستل کیږی که چیری مرافعه محکمه د ابتدائیه محکمی حکم یو مخ لغو کړی او د ابتدائیه محکمی په محکوم له باندی نوی حکم وکړی نو دی پدی پړدی چه د ابتدائیه محکمی د محکوم په یو په سلو کښی د عدم اثبات د محصول او مرافعه محکمی د محکوم په شپاړس په سلو کښی محصول ورکړی.

**دوه سوه نهه اتیایمه ماده:**

د دوه سوه اته اتیایمی مادی حکمونه د تمیز په محکمه کښی هم د هغو حکمونو په باب چه د مرافعه محکمی په فیصلو کښی ئی صادروی د دوه سوه شپږ اتیایمی مادی د دریمی فقری له پاملرنی سره په ځای کیږی.

**دوه سوه نوی یمه ماده:**

که چیری دعوی په دری واړو تجارتی محکمو کښی د اصلاح یا حکمیت له مخه اواری شی نو د هغه مبلغ چه د اصلاح یا حکمیت له مخه ئی ورکړه منل شوی ده په ابتدائیه محکمه کښی اته په سلو، په

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرافعه محکمه کښې شپاړس په سلو او په تميز کښې دوه ويشت په سلو کښې او د غه شان د هغه مبلغ چه د اصلاح يا حکميت په حالت کښې پريښودل شوی وی يو په سلو کښې د عدم اثبات محصول نيم نيم د دواړو خواوو نه اخستل کيږی.

که چيری د دواړو خواوو ترمنځ د محصول او نورو لګښتونو دپاره په بل شان روغه جوړه راغلی وی نو هماغسی اجراآت کيږی.

## دوه يم فصل
## د تجارتی محاکمو د وثيقو بيه

**دوه سوه يونوی يمه ماده:**

هر څوک (حقيقی وی که حقوقی) چه په تجارتی محکمو کښې دعوی سوروی په دی مکلف دی چه خپله ادعا (دوه) افغانيو رسمی عريضه باندی او چرته چه عريضه نه وی په داسی سپينه پاڼه چه د (دوه) افغانيو د صکوکو ټکټ پری لګيدلی وی مربوطی محکمی ته وړاندی کړی.

**دوه سوه دوه نوی يمه ماده:**

هر څوک (حقيقی وی که حقوقی) چه په يوه تجارتی محکمه کښې دعوی سور وی پدی مکلف دی چه د غوښتن ليک وړاندی کولو په وخت ددی قانون د حکمونو سره سم د هغو د دعوی سوريدلو نه مخکښې د پنځو سو افغانيو د صکوکو ټکټ محکمی ته راوړی.

**دوه سوه دری نوی يمه ماده:**

په تجارتی محکمه کښې چه هره وثيقه جوړيږی لکه فيصله ليکونه، حجت، رسيد ليک، اقرار ليک، تړون ليک وکالت ليک بيه ئی شل افغانی ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوه سوه څلورنوی یمه ماده:**

د هغو وثیقو د درج شوی مبلغ محصول چه د تجارتی معاملو په باب په تجارتی محکمو کښی جوړیږی پدی شان دی:

الف: حجت لیک د درج شوی مبلغ په سلو کښی دوه.

ب: ابرا لیک د درج شوی مبلغ په سلو کښی دری.

ج: د منقولو ما لونو اجاره لیك د درج شوی مبلغ په سلو کښی دری.

د: اقرار لیک د درج شوی مبلغ په سلو کښی دری.

هـ: رسید لیک د درج شوی مبلغ په سلو کښی دری.

و:ـ تړون لیک د درج شوی مبلغ په سلو کښی پنځوس پوله.

ز: د ټولو تجارتی وکالت لیکونو او د هغو اقرار لیکونو څخه چه پیسی پکښی نه وی د اخل شوی د وثیقی د شل افغانی بیئی نه پرته محصول نه اخستل کیږی.

**دوه سوه پنځه نوی یمه ماده:**

په دوه سوه څلور نوی یمه ماه کښی راغلی محصول او د وثیقی بیه به هغه څوک ورکوی چه وثیقه د ده په ښیگړه وی یواځی د ابراءٔ لیک اورسیدلیک وثیقی ددی حکم ته وتلی دی چه د هغو درج شوی محصول او د وثیقو بیه به ئی دواړه خواوٖی نیم نیم ورکوی.

که چیری دواړو خوا ؤ ترمنځه د درج محصول او د وثیقو بیی په باب بل شان روغه جوړه راغلی وی نو محصول او د وثیقو بیه په هماغه شان اخستل کیږی.

## دریم فصل
## حق التصدیق او د محکمولګښتونه

**دوه سوه شپږ نوی یمه ماده:**

حق التصدیق له ددوه ډوله تصدیقونه څخه اخستل کیږی.

الف: د اصل سره د مثنی د مطابقت له تصدیق څخه.

ب: د نورو تصدیقو نو څخه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوه سوه اووه نوی یمه ماده**

د اصل سره د مثنی د مطابقت حق التصدیق په تجارتی محکمو کښی په هر مخ شل افغانی دی پنځویشت کلمی یوه کرښه او پنځه لس کرښی یو مخ کیږی او که په کرښه کښی نیمګړتیاوی نو.

**دوه سوه اته نوی یمه ماده:**

د نورو هغه تصدیقونو حق التصدیق چه د تجارتی محکمو له دفتره ورکول کیږی د تصدیق په سر شل افغانی دی او په کرښو او مخونونه په نظر کښی نه نیول کیږی.

**دوه سوه نهه نوی یمه ماده**

د محکمی لګښتونه دا دی:

الف: د احتیاطی تدبیرونو او زیرمو (تأميناتو) کولو دپاره په کار لګښتونه.

ب: د پوهانو ضروری لګښتونه.

ج: د شاهدانو راوستلو ضروری لګښتونه.

د: د اعلان او تبلیغ ضروری لګښتونه.

هـ: ددعوی د وکیل یا حقوقی مشاور حق العمل.

**دری سومه ماده:**

حقیقی یا حقوقی کسان چه په تجارتی محکمو کښی ددعوی یوه خوا کیږی او ددعوی په جریان کښی پوهانو ته د ما تی کولو، د زیرمی د طلب او د احتیاطی تدبیرونو د کولو غوښتنه وکړی پدی مکلف دی چه د محکمی د قرار د محصول په نامه د پنځه ویشتو افغانیو د صکوکو ټکټ د خپلی عریضی سره جوخت محکمی ته وړاندی کړی.

**دری سوه یوومه ماده:**

په تجارتی محکمو کښی هغه خوا چه ددعوی په فیصله کښی دیو موثر کار دکو لو غوښتنه کوی که مربوطه محکمه دده دا غوښتنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ومنى نو دی په دی مکلف دی چه د غوښتل شوی کار دپاره هر څومره لګښت چه کیږی هغه د محکمی د لګولی اندازی سره سم په دغه کار باندی د لاس پوری کولو نه مخکښی محکمی ته نقدی ورکړی.
که چیری په هغه موده کښی د ننه چه محکمه ئی ټاکی دغه ضروری لګښت محکمی ته ونه سپاری داسی ګڼل کیږی چه دی د خپلی غوښتنی نه اوښتی دی.

**دری سوه دوهمه ماده:**
که چیری محکمه بی د یوی خوا له غوښتنی د داسی یو کار کول ضروری و ګڼی چه ددعوی په فیصله کښی اثر لری او د هغه د کولو فیصله وکړی نو د لګښت ورکول ئی په یوه خوا یا دواړه خواوو باندی ږدی.

**دری سوه دری یمه ماده:**
هغه خوا چه ددی فصل د حکمونو له مخه ضروری لګښتونه ورکوی که چیری په نتیجه کښی ددعوی فیصله دده په ښیګړه صادره شی دده په غوښتنه مقابل لوری د ورکړو لګښتونو په ستنولو او هغه حق العمل په ورکړه چه ددعوی وکیل یا قانونی مشاور ته ورکړی شوی دی د محکمی لخوا مکلف کیږی.

## شپږم باب
## د تجارتی محکمو تشکیلات

### لومړی فصل
### ابتدائیه تجارتی محکمی

**دری سوه څلورمه ماده:**
د مملکت د هر ولایت په مرکزکې د تجارتی کشالو د اوارولو دپاره یوه تجارتی ابتدائی محکمه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دری سوه پنځمه ماده:**
د تجارتی محکمو رئیسان او غړی ټول انتصابی دی او دولت د ملکی مامورینو د استخدام، ترفیع او تقاعد د اصولنامی سره سم ټاکل کیږی.

**دری سوه شپږمه ماده:**
د ابتدائی تجارتی محکمی د قضائی هیئت شمیر په مرکز او ولایتونو کښی له رئیس سره دری کسه دی.

**دری سوه اوومه ماده:**
د ابتدائی تجارتی محکمو رئیسان د کابل په مرکز کښی لومړی رتبه او په ولایتونو کښی دوهمه رتبه دی.

**دری سوه اتمه ماده:**
د ابتدائی تجارتی محکمو د غړو رتبی پدی شان دی:
الف: د کابل د ابتدائیه تجارتی محکمی غړی دوهمه رتبه.
ب: د ولایتونو د ابتدائیو تجارتی محکمو غړی دریمه رتبه.

**دری سوه نهمه ماده:**
په هر ابتدائیه محکمه کښی یو د تحریراتو مدیر دی چه دمحکمی د منشی وظیفه هم په ځای کوی قضائی صلاحیت نه لری او رتبه ئی د کابل په ابتدائیه محکمه کښی دریمه او د ولایتونو په محکمو کښی څلورمه ده.
د ابتدائی تجارتی محکمو اداری مامورین، ټایپستان اومستخدمین د عدل د وزارت په بودجه کښی د ضرورت په اندازه استخدامیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوه یم فصل
## مرافعه محکمه

**دری سوه لسمه ماده:**
په کابل کښې یوه تجارتی مرافعه محکمه ده چه ددی قانون په حکم برابر د کابل او ولایتونو د ابتدائیه تجارتی محکمو په فیصلو او قرارونو باندی له نوی سره (استینافاً) غور کوی.
د عدل وزارت صلاحیت لری چه د ضرورت له مخه نوری تجارتی مرافعه محکمی د مملکت په سیمو کښی جوړی کړی.

**دری سوه یوو لسمه ماده:**
د تجارتی مرافعه محکمی د قضائی هیئت شمار له رئیسه سره دری کسان دی چه ددی قانون د دری سوه پنځمی مادی سره سم ټاکل کیږی او رتبی ئی په دی شان دی:
الف: د تجارتی مرافعه محکمی رئیس په لومړی رتبه.
ب: د تجارتی مرافعه محکمی غړی په دوهمه رتبه.

**دری سوه دوولسمه ماده:**
په تجارتی مرافعه محکمه کښی د تحریراتو یو مدیر دی چه د محکمی د منشی وظیفه هم په ځای کوی قضائی صلاحیت نه لری او رتبه ئی دریمه ده.
نور اداری مامورین، ټایپستان او د تجارتی مرافعه محکمی مستخدمین د عدل د وزارت د تشکیل او بودجی سره سم د ضرورت په اندازه نیول کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دريیم فصل
## د تمیز تجارتی محکمه

**دری سوه دیار لسمه ماده:**
په کابل کښې د تمیز تجارتي محکمه د هغو چارو د غور او سرته رسولو دپاره جوړه شوی ده چه ددی قانون د مواد د څرګندونی سره سم دی محکمی وظیفه ګڼل شوی ده.

**دری سوه څوار لسمه ماده:**
د تمیز د تجارتی محکمی د هیئت شمیر له رئیسه سره دری کسه دی چه د دری سوه پنځمی مادی سره سم ټاکل کیږی او رتبی ئی پدی شان دی:
الف: د تمیز د محکمی رئیس په لومړی رتبه.
ب: د تمیز د تجارتی محکمی غړی په دوهمه رتبه.

**دری سوه پنځلسمه ماده:**
ددی قانون د دری سوه دوولسمی مادی حکمونه د تمیز د تجارتی محکمی په باب هم چلیږی.

## څلورم فصل
## متفرقه مواد

**دری سوه شپاړسمه ماده:**
تجارتی محکمی د خپلو وظیفو په چلولو کښی پوره آزادی دی او د هر قسم لاس وهلو نه په امن دی، یواځی بودجه او تشکیلات ئی د عدل وزارت پوری اړه لری.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دری سوه اووه لسمه ماده:**

د تجارتی محکمو د رئیسانو او غړو په خوښولو کښې په کار دی چه له هر څه نه مخکښې د اشخاصو د علمی اهلیت او مسلکی معلوماتو پاملرنه وشی.

